تیلی مچ به یک سسله پروگرام های تلویزیونی در جرمنی که در سال ۱۹۷۰ به نمایش گذاشته شد، برمیگردد، در این نماش باشنده گان دو شهر مسابقه های گوناگون را انجام میدادند و توسط رواج های عظیم، جناح ضعیف مسابقه حمایت میشد تا توازن در مسابقه مراعات شود. به این مفهوم که دو جناح درگیر به جز از سرگرمی شخص ثالث هدف دیگر ندارند، این نقطه آغاز یک سری از آثار است که روابط پیچیده (مبتنی بر روابط جنسیت، مذهبی، سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی) در تاریخ های مختلف سطح را کشف میکند.

در تیلی مچ سادات (۲۰۰۷) یک کاروان از کودکان در کامیون های پایدلی (رینکتس) رسم گذشت سالانه ی را تمثیل میکند که در ان رییس جمهور مصر انور سادات توسط یک گروه نظامی در سال ۱۹۸۱ ترور شد، و پس از ان مراسم خاکسپاری جنازه او را نمایش میدهند. کودکان نا خبر از ابعاد سیاسی این رویداد، نمایش را انجام میدهند و این را پیش بینی کرده نمی توانند که در فضای بین نمایش معصومانه و کمره هوشیار معلق قرار دارند. ES

### وایل شاوکي

**په کال ۱۹۷۱ کې د مصر په الکساندریه کې زېږېدلی دی**
**د مصر په الکساندریه کې اوسېږي**

شاوکي په خپل هنر کې د تاریخ او کیسې ترمنځ فضا بیانوي. نوموړی د شفاهي دودیزو ګړدودونو اولیکنیو ژباړو ترمنځ د بې ساري تحولاتو، تفسیر او منځګړیتوب، د فلم د اجرا او ننداري په بڼه وړاندې کوي. شاوکي تاریخي پېښې د خوځنده او ډیجیټلي انیمېشنونو، ماشومانه تمثیلونو یا د نانځکو په واسطه بیانوي چې مالومه کړي چې معنا په کوم ډول کې ښه ترا جوتېږي. شاوکي له مختلفو زمینو سره د مخامخ کېدو په پایله کې یوې ګونګې پایلې ته رسېږي او پرېکړه او قضاوت لیدونکو ته پرېږدي.

د ده ټیلي مچ Telematch لړۍ د جرمني د ۱۹۷۰ یمو کلونو هغې ټلویزیوني خپرونې سره تړاو لري چې په په کې به د دوو ښارونو اوسېدنکو د مختلفو لوبو مسابقه کوله او د بلا لویو رواجونو په وسیله به د لوبو کمزورې خواوې حمایه کېدلې چې تعادل رامنځته شي. دا چې دوې ډلې یوازې د دې لپاره له یوې بلې سره ټکرېږي چې درېمې ډلې ته ساعت تیري جوړه کړي، د یو لړ کارونو لپاره د پیل ټکی برابروي چې دغه کارونه په مختلفو سطحو کې د وګړو تر منځ پیچلې روابط (د جنسیت پر اساس، مذهبي، سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، او کلتوري روابط) راسپړي. په سادات ټلویزیوني مسابقه (۲۰۰۷) کې په پېډلي ټرکونو کې د ماشومانو یو کاروان راځرګندېږي او لومړی د ۱۹۸۱ د هغه کلني رسم ګذشت تمثیل کوي چې د مصر ولسمشر انور سادات په کې د یوې عسکرې ډلې له خوا وژل شوی و او وروسته د هغه د جنازې مراسم تمثیل کوي. ماشوم لوبغاړي بې له دې چې د پېښې له سیاسي اړخه خبر وي، خپل رول ترسره کوي او دا نه شي پیش بیني کولای چې د معصومې لوبې او باخبرې کمرې تر منځ ځمبېږي. ES

N° 93 ◁

## ویلیم کنتریج

**متولد سال ۱۹۵۵ در جوهانزبرگ (افریقای جنوبی)**
**مقیم در شهر جوهانزبرگ**

ویلیم کنتریج از اوآخر دهه‌ای ۱۹۷۰ بدینسو، یک شیوه‌ای برجسته کاری را رشد داده است که ریشه‌ای آن از تیاتر پیشتاز و سبک‌های هنری اوایل قرن بیستم که در سیاست سهم فعال داشتند، نشأت گرفته است. او در شهر جوهانزبرگ در جریان رژیم اپارتاید (طبقه بندی نژادی) بزرگ شد و شاهد فروپاشیدن این رژیم در سال ۱۹۹۴ بود. وی از واقعیت های اجتماعی افریقای جنوبی آگاهی عمیق با خود دارد، ولی ملاحظات وی به حیث حکایت وضعیت بشریت و متباقی دنیا پنداشته میشود.

کنتریج بدلیل تولید اثرخویش بنام «رسامی برای پرتاب نمودن بروی پرده» (۲۰۰۳ – ۱۹۸۹) شهرت کسب نمود، که شامل ۹ پارچه فلم تصویری بوده و بر اساس رسامی های ذغالی وی گذاشته شده اند. به نظر کنتریج رسامی توسط ذغال جهان را منحیث یک روند (در حال جریان) منعکس مینمایند نه اینکه مثل یک حقیقت تغیر ناپذیر. در رسم‌های متحرک (انیمیشن) وی آثار قابل مشاهده‌ای پاک نمودن و دوباره به تصویر کشیدن که بشکل متداوم دیده میشود، بینانگر تاریخ از هم گسیخته و ناتکمیل میباشد. در این فلمها دو نهایت مخالف نفس یعنی پیشتاز/سرمایه گذار بنام سوهو اِکستین و از طرف دیگر شاعر/عاشق مزاج بنام تِـیـتـــلبام با همدیگر در جریان عروج و ذوال شهر جوهانزبرگ، شهریکه در آن مین ها فرش است و داغهای سرکوب شدن و خشونت چندین دهه در آن دیده میشود، تعامل میکنند.

کنتریج که به طور عموم موقعیت و موقف خود را مورد سوال قرار میدهد، در طی سال های متمادی شبکه ای رسانه های مورد استعمال خویش تولید موسیقی اوپرا، بیان میکند. فلم انیمیشنی وی در کابل که بنام «جلوس سایه ها» (۱۹۹۹) یاد میشود در صالون باغ بابر به نمایش گذاشته خواهد شد. یک جلوس رؤیایی گدی های سیاه رنگ، که از کاغذ کارتن ساخته شده اند، به آهستگی به یک مهاجرت دسته جمعی میپردازند و یادآور خشونت های ترسناک در سرزمینی را میدهد که در آن مخالفتها روئیده است، اما به دلیل ضرورت به مصالحه و تغییر در آن یک تزکیه صورت گرفته است. ES/AV

## ویلیم کن□ریج

**په ۱۹۵۵ کال کې د جنوبي افریقا په جوهانزبرګ کې زیږېدلی دی**
**په جوهانزبرګ کې ژوند کوي**

ویلیم کنټریج له ۱۹۷۰ یمې لسیزې راپدېخوا یوه عالي کاري لاره رامنځته کړې ده چې د شلمې پېړۍ د لومړیو وختونو له پرمختللي او په سیاست کې فعاله برخه لرونکي تیاتر او هنري سبکونو څخه یې منشا اخیستې ده. هغه په جوهانزبرګ ښار کې د اپارټایډ رژیم په وخت کې لوی شوی او د دې رژیم د له منځه تلو شاهد و. نوموړی د سهیلي افریقا د ټولنیزو واقعیتونو په اړه ژوره پوهه لري خو د نوموړي کتنې د بشر د وضعیت او ټولې نړۍ د حکایت په توګه ګڼل کېږي.

کنټریج «د د طرحې لپاره رسامۍ» (۲۰۰۳ – ۱۹۸۹) په وجه مشهور شو چې د ۹ فلمي ټوټو مجموعه ده او د سکرو د سکېچونو پر اساس جوړه شوې ده. د کنټریج په باور، د سکرو رسامي دا نړۍ د یوه بهیر په توګه منعکسوي نه د یوه ثابت حقیقت په توګه. د هغه په متحرکو (انیمېشن) رسمونو کې د دوامداره پاکولو او بېرته رسمولو د لیدلو وړ نښې، یو مات او ناتمام تاریخ انځوروي. په دې فلمونو کې دوه مخالف ایګوګانې یعنې د سوهو اِکسټین په نامه یو متشبث، سرمایه دار او بل یو شاعر/ مین د فیلیکس ټِـیـتـــلبام په نامه د جوهانزبرګ د عروج او زوال په جریان کې سره مقابله کوي. په دې ښار کې ماینونه ښخ شوي او د څو لسیزو د ځپنې او خشونت نښې په کې لیدل کېږي.

کنټریج چې په پرله پسې ډول خپل دریځ تر پوښتنې لاندې راولي، د کلونو په بهیر کې د یو لړ پراخو تخنیکونو لکه د نانځکو د سیوري ننداره، مسجمه جوړونه، په ژوندۍ بڼه خپرېدونکي اکشن فلمونه، او د اوپرا موسیقۍ تولید، په کارولو سره خپلو رسنیو ته وده او پراختیا ورکړې ده. په کابل کې به «د سیوري وړاندې تګ» (۱۹۹۹) په نامه یو انیمیشن فلم د بابر باغ په یوه غرفه کې نندارې ته وړاندې شي. د کارټن د کاغذ په پرې کولو سره د جوړو شویو تورو نانځکو یو خیالي وزمه ډله ییز تګ، په ټولیزه توګه ورو ورو مهاجرت پیلوي، چې موږ ته د هغې خاورې تشدد په اروایي ډول را په یادوي چې پرمخ یې د مخالفتونو بلا زیږېدلې وه خو پخلاینې او بدلون ته د اړتیا په وجه له دغو بدو بلاوو څخه ژغورل شوې ده. ES/AV

N° 106 ◁

## گوشکا مچوگا

**متولد سال ۱۹۶۹ در وارساو، پولند**
**مقیم در شهر لندن**

گوشکا مچوگا با کار کردن در انواع و اقسام نامحدود رسانه ها، رویدادهای تاریخی را از دیدگاه انفرادی یک پسمنظر دیگری میدهد وبه این امر اشاره میکند که تاریخ هیچگاهی بشکل عینی و بیطرفانه نوشته نمیشود و دیگر اینکه حقیقت توسط پسمنظر شرح میشود. برای سهمگیری در داکیومنتا (۱۳)، وی از ساختمان مدور در فریدریشیانوم «Fridericianum» ایده ای ایجاد نمودن فضای دوگانه را الهام گرفت – یک نیمه دایره دیگری که از یک حقیقت ناتکمیل ممکنه نمایندگی میکند. این کار متشکل از دو پرده ای نقش دار است که در روی زمینه ای آن به رویدادهای تاریخی اشاره میکند و به شکلی روی همدیگر گذاشته شده اند که گویا در عین زمان حقایق متفاوت درکنار همدیگر وجود دارند. تصویری که بروی یک پرده بکار برده شده است، در حین مراسم اهدای جایزه ای ارنولد-بودی-پریس که در ماه اکتوبر سالِ ۲۰۱۱ در شهر کاسل برگزار گردیده بود، عکسبرداری شده بود. مچوگا این محفل (عکس) را در چمـنـزارِ ایوپارک بشکل مونتاژ گذاشت تا بتواند یک محفل نیمه خیالی را در یک پسمنظر افسانوی بوجود آورد؛ و آنرا روی یک دیوار منحنی قصر ملکه در کابل نصب نماید. در روی پرده ای دومی، دریک عکس موازی یک تعداد مردم به شمول هنرمندان، کارگران و نماینده گان نهادهای مانند وزارت اطلاعات و فرهنگ، باستانشناسان، یونسکو، ژورنالستان، و دیگر افراد نخبه که در یک مهمانی در باغ بابر جمع شده بودند، موجود میباشد. این گردهمایی مسالمت آمیز در باغ بابر، یک پس منظر مبهم را برای برخورد با موضوعات سیاسی و اقتصادی مرتبط با زوال و احیاء، جعل و حقیقت در پسمنظر پیچیده ای تاریخ معاصر افغانستان بوجود میاورد. با پوشانیدن تمام دیوار ساختمان مدور در کاسل، این نیمه دایره ای دیگری از کابل را منعکس میسازد – که یک تلاش متردد برای به نمایش گذاشتن چیزهایی است که نمایش شده نمیتوانند. ES/AV

## □وشکا مچو□ا

**په ۱۹۶۹ کال په وارسا کې زیږېدلی دی**
**په لندن کې ژوند کوي**

د رسنیو په بېشمېره ډولونو کې د کارکولو له امله ګوشکا مچوګا تاریخي پېښو ته په ذهني توګه نوې قرینې مومي، مانا دا چې تاریخ هېڅکله هم په عینی او بې پرې ټوګه نه دی لیکل شوی او حقیقت د قرینې له مخې تعینېږي.

مچوګا په ډاکیومنټا (۱۳) کې د ګډون لپاره په «فریدریشیانوم» کې له یوې نیمګردې ودانۍ څخه د دې فضا د غبرګولو د ایډیا الهام واخېست – یانې باید یوه بله نیم دایره وي چې د حقیقت هغه بله ممکنه نیمایي تمثیل کړي. د ده اثر له دوو انځوریزو پردو څخه جوړ دی چې پانورامیک بک ګرونډ لري او د هغه پرمخ د بېلابېلو تاریخی پېښو انځورونه سره سر پر سر اېښودل شوي دي، ګواکې پر یوه وخت متفاوت حقیقتونه د یو بل تر څنګ شته دي. د لومړۍ پردې انځور ارنولد بودي ته د جایزې د ورکړې پرمهال په کاسل کې د ۲۰۱۱ کال په اکتوبر کې اخېستل شوی دی. مچوګا دغه انځور د ایوپارک په چمنزار کې د مونتاژ په بڼه کېښود چې وکړای شي یو نیمه خیالي محفل رامنځ ته کړي او په پام کې ده چې دغه انځور به په کابل کې د ملکې په ماڼۍ کې په یوه منحني دېوال وځړول شي. د دویمې پردې پر مخ د یو داسې محفل انځور کښل شوی چې په باغ بابر کې جوړ شوی و او پکې د رسنیو، مدني ټولنو او نورو بنسټونو لکه اطلاعات او فرهنګ وزارت، لرغون پوهانو، یونسکو او د نورو بنسټونو استازو او کارکونکو برخه درلوده. په باغ بابر کې دغه سوله ییزه راټولېدنه د افغانستان د معاصر تاریخ د یو ګونګ شالید په توګه د سیاسي، اقتصادي موضوعاتو سره چې له زوال او احیا، جعل او حقیقت سره تړاو لري، برخورد کوي.

د دې اثر یوه نیم دایره په کاسل کې نیمه مدوره ودانۍ ښیي او دویمه نیم دایره یې د کابل انځور وړاندې کوي. دا د دوو شکمنو هڅو ښکارندویه ده چې غواړي هغه شیان وښیي چې نه ښودل کېږي. ES/AV

N° 118 ◁

## امان مجددی

**متولد سال ۱۹۷۱ در جکسن ویل ایالت فلوریدا**
**مقیم در کابل، دبی و پاریس**

شیوه ای کاری امان مجددی بر مبنای تجارب شخصی و پژوهشهای وی در مورد فرهنگ های مختلف استوار است. چون مجددی منحیث یک شهروند امریکایی افغانی الاصل، در دنیای بزرگ شده است که در حال جهان شمول شدن و در عین زمان درحال فروپاشی و پارچه پارچه شدن میباشد. وی روایت های سنتی را با روش های پست مدرنیزم یکجا نموده و به کمک آن موضوعات چون تعلقیت، سیاستها مبنی بر هویت و مناقشه را مورد نقد قرار میدهد.

«تـعـهــد» (۲۱۰۲) یک انستالیشن صوتی است که برای وایـنـــبرگ بنکر، شهر کاسل در نظر گرفته شده است. این انستالیشن با نشریه های چاپی که به زبان دری و آلمانی چاپ شده اند، همراهی میگردند. هردو نشریه از داستانهای فولکلوری جرمنی و افغانی و درک فرهنگی و تاریخ های که در آن نهفته اند اقتباس میگیرند و وضعیت کنونی روابط سیاسی میان کشورهای جرمنی و افغانستان را نقد میکند. مجددی به مفاهیم «وصف» که در روایت های ادبی زبان عربی و فارسی تذکر یافته اند اشاره مینماید، و همچنان در رابطه با سنن سخنرانی و قصه خوانی شفاهی که در یونان و روم قدیم رواج داشت، اشاره میکند؛ تا از این طریق تجربه حسی بیننده در حین عبور از پناهگاه – یک محل پربار و بیجا شده – بالا برود.

«خاطره های ما مرتبط نیستند» (۲۰۱۲) یک انستالیشن موازی به سبک چند رسانه ای (مکسد میدیا) است که برای به نمایش گذاشتن در کابل درنظر گرفته شده است. مهاجرت به خارج از افغانستان یک پراگندگی جهانی افغان ها را بوجود آورده است؛ و در اکثر مواقع روابط این افغانها با وطن آبایی ایشان گیج کننده است. اودر تلاش اینست تا با کنار هم نهادن عکسهای یک قلعه ای مخروبه در «الـغــوی» با پارچه های صوتی در سواحل جیکـســـنـویل – جایی که مجددی ایام جوانی اش را سپری نموده – راهی را برای تحت شعاع قراردادن رابطه بین خاطره های خود و قصه های فامیلی خود دریابد، که آنها در اصل خویش باهم مشترک هستند ولی در نهایت باهمدیگر در مطابقت نیستند. AV

## امان مجددي

**په ۱۹۷۱ کال کې د فلوریډا ایالت په جکسنوویلي کې زیږېدلی دی**
**په کابل، دوبۍ او پاریس کې ژوند کوي**

د امان مجددي کاري تګلاره د هغه پر شخصي تجربو او د بېلابېلو کلتورونو په اړه د نوموړي پر څېړنو ولاړه ده. ښاغلی مجددي د یوه افغاني الاصله امریکایي په توګه په یوې داسې نړۍ کې لوی شوی چې هم د نړیوالتوب پر خوا روانه ده او هم په عین حال کې د ماتېدو پر لور درومي، نوموړی دودیز روایتونه له موډرنو ستراتیژیو سره یوځای کوي او په مرسته یې پر ځینو موضوعاتو لکه اړېکي، پر هویت ولاړ سیاست، او مخالفت کره کتنه کوي.

«پرېکړه» (۲۰۱۲) یو غږیز انسټالېشن چې د کاسل ښار د واینبرګ د بنکر سیمې لپاره په پام کې نیول شوی او په دري او جرمني ژبو چاپي خپرونه هم رانغاړي. دواړه آثار داسې کیسه بیانوي چې له جرمني او افغاني فولکلوري داستانونو او له کلتوري پوهاوي او تاریخونو څخه اخیستل شوې ده او د جرمني او افغانستان تر منځ د سیاسي اړیکو پر اوسني وضعیت کره کتنه کوي. مجددي د «وصف» هغو مفاهیمو ته چې د عربي او فارسي ژبو په ادبي روایتونو کې یې یادونه شوې ده، او دغه راز د شفاهي نکل ویلو او وینا کولو دود چې په پخواني یونان او روم کې یې رواج درلود، اشاره کوي چې په دې ډول د لیدونکي حسي تجربه په بنکر کې د ګرځېدو پر مهال زیاته شي.

«زموږ خاطرې سره تړلې نه دي» (۲۰۱۲) یو موازي ګډ رسنیز انسټالېشن دی، چې د کابل لپاره په پام کې نیول شوی دی. له افغانستان څخه بهر ته مهاجرت افغانان په نړۍ کې تیت کړي دي چې اغلباً د دغو افغانانو اړېکي له پلرني هېواد سره ګیچوونکي دي. په الغوي سیمه کې د یوې ورانې کلا عکسونه سره څنګ په څنګ ږدي او ورسره مل د جیکسنوویلي په ساحل او نږدې چاپېریال کې – چېرې چې مجددي خپله ځواني تېره کړې ده – د جوړو شویو غږیزو ټوټو په واسطه، مجددي د یوې داسې لارې په لټه کې دی چې د خپلو خاطراتو او کورنیو کیسو تر منځ اړېکي برسېره او روښانه کړي – دغه خاطرې په اصل کې مشترکې دي خو له یو بل سره تړلي نه دي. AV

N° 128 ◁

## رهرو عمرزاد

**متولد سال ۱۹۶۴ در کابل**
**مقیم در کابل**

رهرو عمرزاد هنرمند، نویسنده و رئیس و مؤسس مرکز هنرهای معاصر افغانستان (CCAA)، که عبارت از یک محل میباشد که بشکل مستقل توسط هنرمندان در کابل به پیش برده میشود و فرصتهای مساویانه را برای مردها و زنان مساعد میسازد که فهم خویش را راجع به هنر بهبود بخشند، به ویژه در عرصه یک تلاش برای تجلیات جدیدی که هنر را قادر نماید که در پروسه ای انکشاف افغانستان یک نقش ارزنده را بازی نماید. عمرزاد همچنان مجله‌ای هنری بنام «گاهنامه هنر» را در سال ۲۰۰۰ روی دست گرفت، و در سال ۲۰۰۷ یگانه مرکز هنری برای طبقه اناث در افغانستان را تأسیس نمود. وی همراه با شاگردان خویش، عکاسی و ویدیو را به کار میبرد تا موضوعات مربوط به جامعه معاصر افغانستان را، به ویژه رابطه بین توانمند سازی و عدم توانمند سازی، سقوط و احیاء، جنگ و آشتی را بررسی نماید.

در ویدیوی جدید وی «بدست آوردن و از دست دادن» (۲۰۱۲) یک داستان کوتاه در چهار قسمت ماضی، حال و آینده را تحت پوشش قرار میدهد. که به تخریب کتلوی آثار باستانی در موزیم ملی کابل در جریان دهه‌ای گذشته و به بازسازی زیربناهای موجوده فرهنگی افغان راجع میشود. عمرزاد ما را به یک زمان مشوش که از هراس و امید، یاس و انتظار، تاکید به آرامش عجیب و تنشی در حالت تعلیق وضعیت فعلی در افغاستان متشکل گردیده است، فرو میبرد. در اینجا، عدم توانمندی فزیکی نمایانگر نیازمندی فرهنگی، اقتصادی، نظامی و سیاسی برای درک و توانمندسازی در یک کشور میباشد که پر از تناقضات و احتمالات است، و نیز نقدی است بر درک یک جانبه و ساده ای غرب که در بابت این کشور با خود دارد. AV

## راهرو عمرزاد

**په ۱۹۶۴ کال کې په کابل کې زیږېدلی دی**
**په کابل کې ژوند کوي**

هنرمند او لیکوال راهرو عمرزاد د افغانستان د معاصرو هنرونو د مرکز (CCAA)، رئیس او بنسټګر دی. دغه مرکز په کابل کې په خپلواک ډول د هنرمندانو لخوا پرمخ بېول کېږي او نارینه وو او ښځینه وو ته په مساوي اندازه فرصتونه برابروي چې د هنرونو په اړه خپله پوهه زیاته کړي، په ځانګړې توګه د هغو نویو ځرګندونو په لټه شي چې د افغانستان هنر د هېواد په پرمختګ کې د پاموړ رول د ادا کولو جوګه کوي. دغه راز عمرزاد په ۲۰۰۰ کال کې د «ګاهنامه هنر» په نامه د یوې مجلې چلول پیل کړل، او په ۲۰۰۷ کال کې یې د ښځینه وو لپاره په افغانستان کې یوازینی هنري مرکز پرانیست. نوموړي له خپلو زده کوونکو سره د افغانستان د معاصرې ټولنې د اړوندو موضوعاتو داسې عکاسي او ویډیوګانې کاروي چې په ځانګړې توګه د واک ورکولو او بې واکه کولو، سقوط او نجات، جګړې او سولې موضوعات سپړي.

د نوموړي نوې ویډیو «ګټل او له لاسه ورکول» (۲۰۱۲) یو لنډ داستان بیانوي چې په څلورو برخو کې تېر، اوس او راتلونکی تر پوښښ لاندې راولي، او د تېرې لسیزې په اوږدو کې د کابل په ملي موزیم کې د لرغونو آثارو لویې تباهۍ او د افغان کولتوري بنسټیزو جوړښتونو اوسنۍ بیارغونې ته اشاره کوي. عمرزاد موږ د ډار او هیلې، ناهیلۍ او انتظار یو لانجمن مهال ته بیایي چې پر عجیبې خاموشۍ او د افغانستان د اوسني حالت د تشنج پر دوام تاکید کوي. په دې ځای کې فزیکي معیوبیت هغه سېمبول دی چې د یوه هېواد د کولتوري، اقتصادي، نظامي او سیاسي وضعیت په اړتیاوو دلالت کوي چې باید درک شي او پر پښو ودرول شي. دا هغه هېواد دی چې له مخالفتونو او احتمالاتو څخه ډک دی، همدارنګه معیوبیت د دې هېواد په اړه د لوېدیځ یواړخیز او ساده درک ځرګندوي. AV

## ماریو گارسیا توریس

**متولد سال ۱۹۷۵ در مانکلووا، مکسیکو**
**مقیم در شهر مکسیکو**

ماریو گارسیا توریس محقق نکات مبهم در تاریخ هنر معاصر میباشد. او با احیای مجدد موضوعات از دست رفته هنرمندان گذشته، فضاهایی جدیدی را برای تأمل بر ماهیت هنر و رابطه آن با زندگی باز میکند. او از زمانیکه به هوتل ون الایرو بوتی – که توسط هنرمند ایتالیایی در میان سالهای ۱۹۷۱ و ۱۹۷۷ اداره می شد – سر زده، ذهن او دوباره به همان جا برگشته است. درست همینجا بود که بوتی در سال ۱۹۷۱ در مورد اولین «ماپا» (نقشه) اش، که یک نقشه ای قالین بافت شدهٔ جهان بود و سهمگیری او در داکیومنتا (۵) پنداشته میشد، اما بعداً با اثر دیگری عوض گردید. بیش از سی سال بعد، پس از اشغال شوروی سابق، مرگ بوتی، رژیم طالبان، و هجوم امریکا، زمانیکه گمان نابودی هوتل ون میرفت، گارسیا توریس یک سلسله فاکس های داستانی را نوشت که در آن هنرمند متوفی را از یک سفر خیالی به کابل اطلاع داد، در طی آن او به سراغ آن ساختمان رفت. جستجوی واقعی از طریق آرشیف ها و انترنت برای چهار سال ادامه یافت، و بالاخره در سال ۲۰۱۰ منجر به تولد یک مقاله صوتی و تصویری شد. این همان سال بود که گارسیا توریس قادر به دیدار ساختمانی شد که یک زمانی هوتل ون در آن مستقر بود، آنرا از همان زمان به اینسو بطور موقت آنرا تصرف کرده و بازسازی کرد، از مهمانان پذیرایی میکند، یک کانسرت موسیقی راک را برگذار کرده و از سیمینار ها و جلسات در آن میزبانی میکند. در شهر کاسل، گارسیا توریس فعالیت های هوتل ون را به نمایش میگذارد و سرانجام ماپا (نقشه) را به موزیم فریدیریشانوم میاورد. ES/AV

## ماريو □ارسيا □وريس

**په ۱۹۷۵ کال کې د مکسیکو په مانکلووا کې زېږېدلی دی**
**په مکسیکو ښار کې ژوند کوي**

ماريو ګارسيا ټوريس د معاصر هنر په تاریخ کې تیاره ټکي سپړي. هغه د تېرو هنرمندانو د هغو موضوعاتو په بیا ژوندي کولو سره چې د خاموشۍ په څاه کې ورک شوي دي، د هنر پر ماهیت او له ژوند سره د هغوی د اړیکو پر موضوع باندې د کره کتنې لپاره یوه نوې فضا پرانیزي.

نوموړی له کله چې د الایرو بوټي ون هوټل ته – چې دغه ایټالوي هنرمند د ۱۹۷۱ او ۱۹۷۷ کلونو په منځ کې پرمخ بېوه – تللی، یوځل بیا یې پام دې ځای ته اووښتی دی. همدغه ځای و چې بوټي په ۱۹۷۱ کال کې د خپل لومړني ماپا (نقشې) په اړه فکر کړی و. دا د نړۍ اوبدل شوې نقشه ده او په ډاکومینټا (۵) کې د برخې اخیستنې وړ اثر بلل شوی و؛ خو وروسته له کوم بل اثر سره عوض شو. څه باندې دېرش کاله وروسته، د پخواني شوروي تر اشغال، د بوټي تر مرګ، د طالبانو تر رژیم او د امریکا تر هجوم وروسته، کله چې د ون هوټل د له منځه تللو ګمان کېده، ګارسیا ټوریس د کیسو یوه لړۍ فاکسونه ولیکل، چې پکې یې مړ هنرمند کابل ته له خیالي سفر څخه خبراوه، په دې لړ کې نوموړې د هماغې ودانۍ په لټون پیل وکړ. رښتیني پلټنې د آرشیفونو او انټرنیټ له لارې څلور کاله ادامه پیدا کړه چې په پایله کې یې په ۲۰۱۰ کال کې یو غږیز او تصویري اثر تولید کړ. بالاخره ګارسیا ټوریس هماغه کال له هغې ودانۍ څخه لیدنه وکړه چې یو وخت ون هوټل پکې فعال و، ودانۍ یې د موقت وخت لپاره ونیوله، ویې رغوله، د مېلمنو هرکلی یې پکې کاوه، او د راک موسیقۍ یو کانسرټ، سیمینارونه او غونډې یې پکې جوړې کړي دي. په کاسل کې ګارسیا ټوریس خپل د ون هوټل فعالیتونه ننداري ته وړاندې کوي او په پای کې ماپا (نقشه) د فریډریشانوم موزیم ته سپاري. ES/AV



## جیانو غوثی

**متولد سال ۱۹۷۳ در کابل، افغانستان**
**مقیم در شهرهای برلین و کابل**

فلم ها ، پارچه فلم ها، عکس ها، و انستالیشن های جیانو غوثی فضا ها و زمانهای تعریف ناشده را با مجسم نمودن طرزتحرک وبرخورد افراد و اشخاص در جوامع ، در سطح فردی و نیز در سطح اجتماعی بررسی میکند. او درشهرهای کابل، دهلی، و برلین ایام زندگانی خویش را سپری کرده است و کوشش میکند که یک هویت ممکنه ای را بازسازی نماید که از پارچه های متعدد و خاطرات متصادم تشکیل شده باشد. غوثی دو پروژه را در شهرهای کاسل و کابل به نمایش میگذارد. وی در «قصه های خانوادگی» (۲۰۱۲-۲۰۱۱) از استاد شریف «امین»، نقاش که در کابل بسر میبرد – با کسیکه وی در سال ۲۰۰۸ درجریان نخستین سفر خویش به افغانستان بعد از سال ۱۹۸۷ بدینسو، آشنا بود – در طی جستجوی خود برای دوباره ترسیم نمودن پس منظر از هم گسیخته ای زندگانی خویش، خواهش نمود که او یک تعداد عکس های فامیلی وی را از سر بسازد. یک همتای این اثر مذکور که بنام «پیــراهــن و تــنــبان» (۲۰۱۲) یاد میشود، عبارت از یک انستالیشن ویدیویی میباشد که در آن یک گروهی از اتنچی ها که لباس های محلی افغانی را به تن دارند (پیراهن های که دامنهای آن تا زانوها میرسند و با یخنهای گلدوزی شده نیز مزین گردیده اند ، و دارای تنبانهای آزاد میباشد)، در حال اتن به مـشاهده میرسند. با اندکی دقت به بیننده به طور اشکار معلوم میشود که لباس های اتنچی ها در اصل از رختهای ساخته شده اند که برای ساختن لباسهای نظامی و پولیس از آن استفاده میگردد و یک سلسله نشانه ها (مدال ها) ای نظامی روی لباسهای آنان دوخته شده اند. با قرار گذاشتن خویش درمقابل گذشته ها (که توسط رقص محلی اتن از آن نمایندگی میشود، در حال حاضر به حیث رقص ملی کشور افغانستان بحساب میرود) و با حقایق فعلی (که با استفاده ای سمبولیک نوعیت رخت که در دوختن لباسها بکار برده شده و نشانه های نظامی که در تزئین یخن گلدوزی شده استفاده گردیده اند، ارائه میشود. این کار غوثی منعکس کننده ای جاگزینی یک تغییر گسترده در ساختار شهری و برخورد اجتماعی شهریان کابل است، جایی که به وجه حاکمیت قوانین جنگی و داغ های جنگ که بروی خود دارند، یک هویت نظامی را از آن خود نموده است). غوثی دوباره خود را در وضعیتی دریافت مینماید که راجع به حقیقتی که از او روی پوشی مینماید درک مبهم دارد، اما با وجود آن هم وی تلاش مینماید که با آن یک رابطه را برقرار نماید. AV

## جیانو غوثي

**په ۱۹۷۳ کال کې یې په کابل کې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي**
**په برلین او کابل کې ژوند کوي**

د جیانو غوثي فلمونه، فلمي ټوټې، عکسونه او انسټالېشنونه په ټولنو کې د افرادو د خوځښت او چلند د څرنګوالي په انځورولو سره ناڅرګندې فضاګانې او وختونه، په انفرادي او دغه راز په ټولنیزه کچه سپړي. هغې په کابل، ډیلي او برلین ښارونو کې د ژوند شپې او ورځې تېرې کړې دي او هڅه کوي چې یو داسې ممکن هویت بېرته جوړ کړي چې له متعددو ټوټو او ټکرېدونکو یادونو څخه جوړ شوی وي.

غوثي په کاسل او کابل ښارونو کې دوې پروژې ننداري ته ږدي. هغې په «کورنۍ کیسې» (۲۰۱۲-۲۰۱۱) کې په کابل کې له یوتن اوسېدونکي نقاش استاد شریف «امین» څخه وغوښتل چې یو شمېر کورني عکسونه یې له سره ورته جوړ کړي. دې هڅه وکړه له خپلې جلا شوې ماضي سره بېرته یو ځای شي. غوثي له ښاغلي امین سره په ۲۰۰۸ کال کې اشنا شو، دا له ۱۹۷۸ کال را په دېخوا افغانستان ته د دې لومړی سفر و. له دې اثر سره یو بل غبرګ اثر چې د «کمیس او پرتوګ» (۲۰۱۲) په نوم یادېږي، یو وېډیویي انسټالېشن دی چې دودیزې افغاني جامې پر تن یوه ډله اتنچیان پکې ښکارېږي. دوی رغېدلې غاړې، تر زنګنو پورې اوږده پراخ کمیسونه او ارت پرتوګونه اغوستي وي. که لیدونکی لږ ورته ځیر شي نو وبه ویني چې د اتنچیانو جامې په اصل کې د پوځیانو او پولیسو له یونیفورم څخه جوړې شوې دي او د کمیسونو د غاړې نقش یې د نظامي نښانونو له یو ځای کېدو څخه ترتیب شوی دی. غوثي په دې اثر کې تېر وختونه او اوس مهال سره مخامخ کړي دي، اتڼ تېره زمانه رایادوي او د اتنچیانو جامې چې له عسکري فورم او نښان څخه رغېدلې دي، اوسنۍ زمانه تداعي کوي، دا د کابل په ښاري جوړښت او د دې ښار د اوسېدونکو په ټولنیز سلوک کې پراخ بدلون منعکس کوي او دا راته ښیي چې کابل د جنګي قوانینو د حاکمیت او د جنګ د ټپونو په وجه نظامي بڼه خپله کړې ده. له دې کار سره غوثي یو ځل بیا له هغه واقعیت سره مخ کېږي چې دا ځنې مبهم درک لري او دا ځنې تښتي خو له دې سره سره هڅه کوي چې ورسره ونښلي. AV



## مریم غنی

**متولد سال ۱۹۷۸ در نیویارک**
**مقیم در شهر بروکلین و کابل**

کارهای مریم غنی که اغلب به شکل مشارکتی در برگیرنده فلم های ویدیویی، عکس ها، انستالیشن ها، نشریه ها، تمثیل ها، و گفتگو ها میباشد که از نواحی مرزی بحث میکنند. نواحی که پدیده های مختلف باهم یکجا میشوند؛ از مداخله پس از درگیری گرفته الی قوانین مهاجرت و مرز باریک میان مناظر طبیعی و مصنوعی.

«تاریخچه مختصری از فروپاشی ها» (۲۰۱۲-۲۰۱۱)، دو ساختمان را نشان میدهد، باوجود اینکه در قرن های متفاوت و در براعظم های متفاوت ساخته شده اند، باهم مشابهت های قابل ملاحظه ای را دارند، نه تنها از لحاظ شیوه‌ای معماری، بلکه از لحاظ نقش سمبولیک که آنها در پس منظر تاریخی و کنونی خویش ایفاء مینمایند. این دو ساختمان در زمانیکه بنا میگردیدند، نشانه های عصریتگرایی و منوّریت محسوب میشدند و در اثر آسیب پذیری ازجنگ و شورش ها به نشانه های سقوط مدنیت مبدل گردیدند. در حالیکه ساختمان Fridericianum که در شهر کاسل موقیعت دارد به حیث معرف دوباره ای فرهنگ پیشگام و یک سمبول احیای مجدد بعد از جنگ جهانی دوم نگریسته میشود، اما قصر دارالامان که در کابل موقیعت دارد هنوزهم یک ویرانه است. انستالیشن فلمهای ویدیویی دو کاناله ای خانم غنی به سفرهای موازی در فضاهای داخلی هردو تعمیر میپردازد. در پارچه های طولانی فلم که بطور دقیق صحنه ریزی شده اند، یک شخص بنظر میرسد که از کمره فرار میکند، او از چهارچوب تصویر و یاهم تعمیر فرار مینماید. گذاشتن مرموزانه ای اشیاء به شیوه های استفاده قبلی این ساختمان ها اشاره مینماید، صدای ثبت شده روی فلم از یک نکته به نکته ای دیگری برمیگردد، و واقعیت های تاریخی را با افسانه ها و تبصره ها بافت میدهند، که درنتیجه گفتگوی میان این دو فلم ایجاد میگردد. ES

## مریم غني

**په ۱۹۷۸ کې د نیویارک په ښار کې زېږېدلې ده**
**په بروکلین او کابل کې ژوند کوي**

د مریم غني کارونه، چې ډېرځله مشترکه بڼه لري، ویډیوګانې، انځورونه، انسټالېشنونه، خپرونې، کړنې، او خبرې اترې رانغاړي. دا په خپلو کارونو کې سرحدي سیمې سپړي. هلته بېلابېلې پېښې په یوه وخت کې واقع کېږي، له جګړې نه وروسته مداخلو څخه نیولې د مهاجرت تر قوانینو او بیا د طبیعي او جوړو شویو منظرو ترمنځ ډېر نازک سرحده پورې.

د سقوط یو لنډ تاریخ (۲۰۱۲ – ۲۰۱۱) د دوو ودانیو انځور کاږي. دغه ودانۍ سره له دې چې په مختلفو پېړیو او په بېلو وچو کې جوړې شوې دي، بیا هم د پام وړ شباهتونه سره لري. دغه ورته والي نه یوازې د ودانۍ په سبک، بلکې په تاریخي او معاصرو اړخونو کې د دوی په سېمبولیک رول کې هم لیدل کېږي: دغه ودانۍ چې جوړېدل یې د مدرنیتې او روښانتیا نښې وې، د جګړې او بلوا د ورانیو په پایله کې د تمدن د سقوط په تاریخي یادګارونو بدلې شوې. د کاسل په ښار کې «فریډریشانوم» موزیم د یوه مبتکر کلتور په بیا راستنېدو سره اوس تر جګړې وروسته د بیارغونې سېمبول ګڼل کېږي، حال دا چې په کابل کې دارالامان ماڼۍ اوس هم ورانه پاتې ده. د آغلې غني دوه کاناله ویډیو دوه موازي سفرونه د هغوی د دننني حالت له لارې ښیي. د ویډیو دغه دقیقه طرحه یو څوک ښیي چې له کمرې څخه د تېښتې په حال کې دی او کوښښ کوي چې د انځور یا ودانۍ له چوکاټه ووځي. په ظرافت سره د اجسامو د تصویرونو اخیستل له دغو ودانیو څخه پخوانۍ استفاده راښیي، حال دا چې د راوي غږ ځایونه سره تړي او تاریخي واقعیت له اساطیرو سره اوبدي، او د دغو دوو فلمونو تر منځ یو ډایلوګ جوړوي. ES



## مسعود کمندی

**متولد سال ۱۹۸۱ در کالورادو- امریکا**
**مقیم در لاس انجلاس امریکا**

مسعود کمندی یک عکاس، نویسنده و مدرس افغان است. وی در کارها، آثار تحقیقاتی عکاسی و فلمبرداری خویش جزئیات قابل دید جاهای را که وی در آنجا زندگی مینماید، یا از آن دیدار مینماید و یاهم به خاطرخود دارد، بررسی مینماید. عکس های که وی برای یک سلسله آثار خویش مانند «دفتر خاطرات کابل» (۲۰۰۵ – ۲۰۰۲)، «قبرستان آریانا» (۲۰۰۲)، «باغ وحش کابل» (۲۰۰۴)، و «بدنسازان کابل» (۲۰۰۴) – که اغلب تصاویر نواحی مختلفه منطقه کابل را احتواء مینمایند، جاییکه از آن فامیل وی نشأت نموده است – به حیث یک دفترچه ای خاطرات استفاده میکند و حالت روزمره این محل و ارتباط شخصی وی با آن را نمایان میسازد. کمندی در سال ۲۰۰۵ یک اتاق تاریک را به منظور تدریس عکاسی انالوگ به دانشجویان دانشکده ای هنرهای زیبای پوهنتون کابل ایجاد کرد و به تعقیب آن یک نمایش گروهی برخی از کارهای آنان را زیر نام اولین تابش: تدریس عکاسی در کابل در مکتب هنرهای تصویری نیویارک راه اندازی نمود. کمندی در پس منظر داکیومنتا (۱۳)،سیمینار دومی را زیر نام معلومات عکاسی ترتیب نموده است، که به مثابه ای یک فرصت خوب برای تجدید نظر روی عکاسی درنظر گرفته شده و ویدیوها، پروگرام های کمپیوتری و استملاک/ مورد استفاده قرار دادن تصاویر آرشیفی را نیز در بر دارد. کمندی همچنان یک سلسله عکسهای جدید و یک پروژه ای انترنتی را که خاصتاً برای ویب سایت داکیومنتا (۱۳) در نظر گرفته شده است، تقدیم مینماید. AV

## مسعود کمندي

**په ۱۹۸۱ کال کې په کالوراډو کې زېږېدلی دی**
**په لاس انجلس کې ژوند کوي**

مسعود کمندي یو افغان عکاس، لیکوال او ښوونکی دی. هغه په خپلو عکاسیو او فلمي څېړنو او کارونو کې د هغو ځایونو آشنا جزئیات رابرسېره کوي چې دی ژوند پکې کوي، یا یېویني او یا یې په یاد دي. دی د خپلو اثارو لپاره داسې عکسونه اخلي چې اغلباً د کابل منظرې په کې ښکارېږي – د ده کورنۍ له کابله راغلې ده – مثلاً «د کابل یادداښتونه» (۲۰۰۵ – ۲۰۰۲)، «آریانا هدیره» (۲۰۰۲)، «زما د نیکه فابریکه» (۲۰۰۲)، «کابل ژوبڼ» (۲۰۰۴)، «او د کابل بدن جوړوونکي» (۲۰۰۴) د لړیو عکسونه، د کابل ورځنی ژوند او همدارنګه له دې ځای سره د ده اړیکي څرګندوي. دا عکسونه د خاطراتو د کتابچې کار ورکوي. کمندي په (۲۰۰۵) کال کې د کابل پوهنتون د ښکلیو هنرونو پوهنځي محصلینو ته د انالوګ عکاسۍ د تدریس لپاره یوه توره کوټه جوړه کړه، وروسته یې د نیویارک ښار د انځوریزو هنرونو په ښوونځي کې د «لومړنۍ رڼا: په کابل کې د عکاسۍ ښوونه» تر نامه لاندې د دغو محصلینو د ځینو کارونو ډله ییزه ننداره جوړه کړه. کمندي د ډاکیومنټا (۱۳) په چوکاټ کې خپل دویم سیمینار «د عکاسۍ معلومات» ترتیب کړی دی چې د عکاسۍ په اړه د بیا فکر کولو یو بل فرصت ګڼل کېږي. دغه سیمینار ویډیوګانې، کمپیوټري پروګرامونه، او د آرشیفي انځورونو اختصاصي کول هم رانغاړي. کمندي همدا راز د انځورونو نوې لړۍ او یوه انټرنټي پروژه هم وړاندې کوي چې خاص د ډاکیومنټا (۱۳) د ویبپاڼې لپاره په پام کې نیول شوې ده. AV

N° 26 ◁

## ژیرام بل

### متولد سال ۱۹٦۴ در پاریس
### مقیم در پاریس، فرانسه

ژیرام بل علاقمند چیزی است که در ماورای نمایش نهفته است. در رقصهای هنری خود، قوانین رقص و تیاتررا به شکل نحو در یک زبان در می‌آورد. رقص و گفتار توسط افرادی که مسلکی هستند وهمچنان توسط اجراکننده گان آماتور را میتوان به حیث بیان های به نفع دموکراتیزه هنر رقص پنداشت.

ژیرام بل در سال (۲۰۱۲) در کاسل تیاتر معیوبین «Disabled Theatre» را انجام داد و نیز نسخه ای سینمایی رقص های (۲۰۱۲) را با بازیگران تیاتر هورا که عقب مانده گان ذهنی مستقر در زوریخ اند، انجام داده است. عقب ماندگی ذهنی معمولاً در مغایرت کلی با حالت فکری مشوق عامه هنر معاصر است. بل میخواهد که این معیوبین را مورد توجه این تماشاچیان قرار دهد، یک فضا را برای معیوبیت باز نموده جای که معیوبیت از انظار و شیوه های استدلالی خارج نیست و نه هم در عقب پرده ای اصلاحات سیاسی مخفی مانده است.

موازی به این، بل سیمیناری را در کابل به اساس یک نمایشنامه که در سال ۲۰۰۴ برای ویرونیک دوویسنو (یک رقاصه بالرینا اپرا پاریس) ساخته بود، انکشاف داد. «روش های کاربرد تیاتر یا شیوه های هنر رقص رفتارهای شخصی و سیاسی را ظاهر میسازد، چگونه زیبایی های تیاتری با لحظات تاریخی تنیده شده اند، چگونه معرفی هنرمند با تاریخ تیاتر پیوند خورده است»، و نیز با «تاریخ تنهایی». بل از زیبایی خود در رابطه به علم و واقعیت بازیگران پرسش میکند، در حالیکه نظریات مشکل مانند تمرکز به نظریات اروپایی، تعدد فرهنگی و جهانی سازی فرهنگی را جستجو مینماید. در این نمایشگاه یک فیلم کوتاه جدید ارائه شده است، که هنرمند این فلم را در آخرین روز سمینار خود از یک تئاتر در مرکز فرهنگی سابق روسیه در کابل تصویربرداری نموده است. CV/AV

## ژیرام بل

### په ۱۹٦۴ میلادي کال په پاریس کې زېږېدلی دی
### په پاریس کې ژوند کوي

ژیرام بل د داسې شي لېواله دی چې د ظاهر تر شا پټ وي. د ده د نڅاوو په طرحو کې د نڅا او تیاتر قوانین داسې کار کوي لکه په ژبه کې نحو. له مسلکي او همدارنګه له آماتورو کسانو سره نڅا او خبرې د نڅا د دیموکراسۍ په ګټه بیاناتو او ویناو ته ورته ګڼي.

بل په ۲۰۱۲ کال کې په کاسل کې د معیوب تیاتر «Disabled Theatre» ننداره او د هغه یوه سینمایي نسخه د معیوبه سیمنا «Disabled Cinema» په نامه وړاندې کړه چې د هورا «HORA» د تیاتر ذهني معیوب لوبغاړي چې په زوریخ کې اوسېږي، په کې کار کړی دی. د ذهني معیوبیت په اړه عمومي باور دا دی چې دوی د معاصر هنر په برخه کې د عاقلو خلکو له حالته بیخي بېل او متفاوت دي.

بل غوره وګڼله چې دغه معیوبیت د دغو نندارچیانو د پام وړ وګرځوي، د معیوبیت له پاره یی یوه فضا پرانیسته چې وښیي چې معیوبیت له بصري او تعقلي فعالیتونو څخه د باندې نه دی او نه هم د سیاسي سمسمکي د پردې تر شا پټ پاتې شوی دی .

له دې سره سم «بل» په کابل کې یو سمینار جوړوي. په سیمینار کې پر خپل یو اثر باندې بحث کوي چې په ۲۰۰۴ کې یې د ویرونیک دوویسنو لپاره د پاریس اوپرا د یوې نڅاګرې په اړه جوړ کړی و. ده څرګنده کړه چې څه ډول تیاتري او نڅاګري فعالیتونه، شخصي او سیاسي کړه وړه څرګندوي؟ څه ډول تیاتري ښکلا له تاریخي شېبو سره تړل کېږي؟ څه ډول د یو هنرمند بیوګرافي هم د تیاتر له تاریخ سره تړلې ده هم خپله له تاریخ سره .

«بل» له خپل هنر څخه د هنرمندانو د پوهې او واقعیت په اړه پوښتنه کوي، په داسې حال کې چې ستونزمن نظریات لکه په اروپایي نظریاتو تمرکز، فرهنګي تعدد او د فرهنګي نړېوالتوب راسپړي. CV/AV

په نندارتون کې یو نوی لنډ فلم ښودل کېږي چې دغه هنرمند په کابل کې د روسیې د پخواني فرهنګي مرکز په تیاتر کې د خپل سیمینار په وروستۍ ورځ ډک کړی دی.

N° 48 ◁

## تاسیتا دین

### متولد سال ۱۹۶۵ در کنتربری، انگلستان
### مقیم در برلین، آلمان

باوجود اینکه خانم تاسیتا دین در بخش هنرهای چون رسامی و عکاسی کار میکند، ولی به دلیل سبک انفرادی خویش در عرصه ای استفاده از فلم ها شهرت کسب نموده است. وی در فلم‌های ۱۶ ملی متره‌ای فراموش نشدنی و زیبا زمان، مکان و تاریخ را نقاشگونه مورد مطالعه قرار میدهد.

دو پروژه ای تاسیتا دین که برای داکیومنتا (۱۳) تهیه میگردد، شهرهای کابل و کاسل را باهم وصل میسازد و در هر دو جای بنمایش گذاشته میشوند . اثار تاسیسا روی موضوعات تاریخ ها و قابل رویت بودن فضاهای تخریب شده، غیر قابل دسترس و یاهم پنهان شده، میچرخد و با تجارب شخصی مترکز میباشند. «ژولیون» (۲۰۱۲) متشکل از صد عدد پست کارد دریافت شده از مناظر شهر کاسل قبل از وقوع جنگ جهانی دوم بوده، که هنرمند روی آن نماهای فعلی همان موقیعت ها را نقاشی نموده و به ژولیون لیزلی – رئیس اسبق بخش فرهنگی بنیاد آغاخان – در کابل فرستاده است، که نام ژولیون برای خانم تاسیتا دین یک اهمیت ارزنده ای دارد. در اتاق محافظتی (خزائن و اسناد) تعمیر اسبق دفتر مالیات شهر کاسل نمایشی که به محظر تماشا گذاشته شده است، یک پروژه ای جدید و وسیع رسامی بالای تخته سیاه میباشد که برای بار نخست پس از ده سال منعقد میشود و از فلم «نابینا» الهام گرفته است. این فلم اگرچه شامل این نمایش نمیباشد ولی تصویربرداری آن در افغانستان توسط خانم تاسیتا سفارش شده بود. خانم تاسیتا این فلم را شخصاً تصویربرداری نکرده بلکه از یک تصویربردار افغان که در زمان تسلط روس بالای افغانستان در بوداپست آموزش دیده است، خواهش کرد تا از مناطق مختلف شهر کابل کورکورانه فلمبرداری نماید. این دو کار او روی روابط بین خاطره های فراموش شده و خاطره های دوباره تازه شده، یک حس تعلق و بیجایی، نزدیکی و دوری در هردو زمان و مکان، متمرکز میباشد. ES/AV

## □اسي□ا □ين

### په ۱۹٦۵ کال کې د انګلستان په کنټربري کې زېږېدلې ده
### په برلین کې ژوند کوي

مېرمن ټاسیټا ډین، سره له دې چې په نورو ډګرونو لکه رسامي او عکاسي کې هم کار کوي، خو په فلم کې د خپلې بې جوړې لارې د لرلو په وجه یې زیات شهرت موندلی دی. د هغې ۱٦ ملي متره نه هېرېدونکي او ښکلي فلمونه وخت، ځای او تاریخ په رنګین ډول سپړي.

ټاسیټا ډین د ډاکیومینټا (۱۳) لپاره دوې پروژې لري چې د کابل او کاسل ښارونه سره نښلوي او په دواړو ښارونو کې ننداري ته وړاندی کېږي. دغه پروژې چې له شخصي تجربو سره تړاو لري، د ورانو شویو ځایونو، د هغو ځایونو چې لاسرسی ورته نه وي او د پټو ځایونو له تاریخونو سره لېوالتیا لري. او. ژولیون (۲۰۱۲) د ټاسیټا یو اثر دی. دې په سلو موندل شویو پوسټ کارډونو کې د کاسل هغې منظرې پیدا کړي دي چې د دویم نړیوال جنګ څخه مخکې وختونو پورې تعلق لري، دې هنرمندې دغه منظرې رسم کړي دي او ورسره د هماغه ځایونو اوسنۍ بڼې هم نقاشي کړي او په کابل کې یې ژولیون لیزلي – د آغاخان بنسټ د کلتوري څانګې پخواني رئیس – ته استولي دي. د ژولیون نوم مېرمن ټاسیټا ډین ته خاص اهمیت لري. د کاسل ښار د مالیاتو د پخوانۍ ودانۍ (د اسنادو او خزانو) په ساتنځای کې چې کوم څه ننداري ته وړاندې شوي، پر توره تخته د رسامۍ یوه نوې او پراخه پروژه ده – چې له لسو کلونو وروسته د لومړي ځل لپاره ترسره کېږي – او له «ړوند» فلم څخه یې الهام اخیستی دی. که څه هم دا فلم په دې ننداري کې شامل نه دی، خو همدې فلم ټاسیټا په افغانستان کې ګمارلې وه. مېرمن ټاسیټا دغه فلم پخپله نه دی ډک کړی، له یوه افغان فلم اخیستونکي څخه یې – چې د روسانو د یرغل په وخت کې یې په بوداپست کې روزل شوی و – غوښتنه وکړه چې د کابل ښار له بېلابېلو ځایونو څخه ړنده عکاسي وکړي. دغه دوه آثار په مکان او زمان دواړو کې د هېرو شویو او بیا تازه شویو یادونو، په یوه ځای پورې د تړاو او له هغه څخه د بېځایه کېدو حس، د نژدېوالي او لرېوالي تر منځ پر اړیکو باندې تمرکز کوي. ES/AV

N° 34 ◁

## آندریا بوتنر

### متولد سال ۱۹۷۲ در استوتگارت، آلمان
### مقیم در لندن و فرانکفورت

کار آندریا بوتنر در حقیقت تمرین خط است. این شیوه ای کاری وی درک بسیار خاص او را از زبان تولید تصویر، رنگ و مهمتر از همه سطوح است که اجازه می دهد تا اورا به کشف دیگر رسانه ها از جمله عکاسی، سطوح پوشیده توسط پارچه ها، آثار شیشه ای و حتی گیاه کوچک دست یابد.

بوتنر درگیر این سوال ساده است، که چه چیزی زندگی بشر را به نحوی اطناب آمیز (غیرضروری) ارائه میکند، و یا نسبت به ارزش اش بی حس میکند؟ او در تلاش است تا پاسخی برای این سوال از طریق علاقه اش به سادگی ژست زبان بدست بیآورد، چیزی که در هنر کاربردی زندگی موجود بوده و راهی را بوجود میاورد تا به اشیا با دقت و احتیاط نگریسته شود و شیوه های دیدن به پدیده ای آشنا افزایش یافته و در نتیجه به ما کمک خواهد کرد تا به پدیده های نا آشنا نزدیک تر شویم. بررسی این موضوعات بوتنر را اجازه میدهد تا از مدرنیته، بر اساس تصورات خود از توسعه طلبی و سرمایه، عقلانیت بوروکراتیک آن و فراموشی از خواص غیر مادی بدن انسان، جانوران و گیاهان نقد چند وجهی را تصور نماید.

بوتنر در نمایشگاه داکیومنتا (۱۳) مجموعه ای آثار انتخابی اش را زیر نام «مجموعه ای تصاویر کابل» از سلسله ای کارهایش که شامل بیست اثر چوب حکاکی شده است، به نمایش میگذارد. این مجموعه به عنوان یک شاخص در زمینه های مختلف درک شمرده میشود که هنرمند در حال کارکردن روی موضوعات چون: الاغ ها ، خیمه ها ، سیرک ها ( یک نوع گیاه) ، هنر و شرم ، مفاهیم یا (اجازه ای سقوط) ، جامعه، هوسرانی و تصاویر «امانوئل» از نقد کانت در مورد حکم میباشد. CM/AV

## آن□ریا ب□نر

### په کال ۱۹۷۲ کې په اشټوټګارټ کې زېږېدلې ده
### په لندن او فرانکفورت کې اوسېږي

د انډریا د کار اصلي زړی د تصویرونو د چاپولو تمرین دی. دا د تصویرونو، رنګونو او سطحو په ژبه پوهېږي او همدې پوهې دې ته اجازه ورکوي چې په هر رنګه سطح باندې انځورونه وکاږي او نور محیطونه کشف کاندي لکه، عکسونه، ښیښه یي او ټوکرین او ان له خزه «یو ډول بوټی» څخه جوړې سطحې.

انډریا دغه ساده پوښتنه سپړي چې: «هغه څه دي چې د انسان ژوند اضافي اېسوي او یا د ژوند په وړاندې د انسان حساسیت له منځه وړي» دا هڅه کوي د خپلې علاقې له مخې د دې پوښتنې ځواب د ژبې او ژستونو په ساده ګۍ او وضاحت کې ولټوي. دا هغه څه دي چې د ژوند په شان په هنر کې هم داسې لاره جوړوي چې سړی شیانو ته په ځیر او په دقت سره وګوري. دا کار هغو میتودونو باندې ټینګار کوي چې سړی دې اشنا شیانو ته وګوري او دا ورسره مرسته وکړي چې د نا اشنا شیانو پېژندلو ته ورنژدې شي. د دې عناصرو ازموینه بټنر ته اجازه ورکوي چې د مدرنیتې په اړه د خو اړخیز انتقاد تصور پیدا کړي. د مدرنیتې د توسعه ګرایي «expansionism» او پانګوالۍ تصورات، بیوروکراټیکه عقل ګرایي «rationality» او د انسان، حیوان او نبات د غیرمادي اجزاوو هېرول، د بټنر د دې انتقادي فکر اساس جوړوي.

انډریا په کابل کې، د خپلې نوې لړۍ د شلو لرګینو کارونو یو غورچاڼ ننداري ته وړاندې کوي چې «د کابل البوم» نومېږي. دغه مجموعه د هغو ډګرونو فهرست ګڼل کېږي چې اوس اوس هنرمند ورباندې کار کوي لکه: «خره، خیمې، سرکسونه، هنر او شرم، د خوارۍ خیالونه، ټولنه، Fallenlassen یا (غورځېدو ته پرېښودل)، خزه او عیاشي، او پر قضاوت د امانویل کانټ په نقد باندې تصویرونه» CM/AV

N° 61 ◁

## لارا فیواریتو

### متولد سال ۱۹۷۳ در ترویزو، ایتالیا
### مقیم در تورین، اتالیا

آثار لارا فیواریتو از قبیل انستالیشن ها، فلم ها، مجسمه ها، نقاشی ها، رفتارها، و پروژه های که بر اساس آرشیف استوار هستند، تحلیل کننده ای سیستم اعتقادات ما میباشد. لارا طیف وسیع اجتماعی، فلسفی، روایتی و مراجع موسیقی فولکلوریکی را به گزینه های سیاسی، ارزش های زیبایی شناختی و اشکال مقاومت تبدیل مینماید.

پروژه ای لارا برای داکیومنتا (۱۳)، شباهت ها میان کاسل و کابل در دو قسمت «یادبود خاطره» «Momentary Monument» (۲۱۰۲) طراحی شده است. در شهر کاسل، او انبوهی از مواد را که از محل دفن کثافات و مراکز بازمصرف بدست آمده است، بر روی جاده تخلیه مینماید. او در حین گذشتن از میان انبارهای بزرگ کثافات تعدادی از اجناس را بازیابی و در یکی از نمایشگاه های همجوار نصب نموده و همانند موزیم‌های باستانشناسی، به محضر نمایش قرار میدهد.

فواریتو این بار در کابل عمل تفریق را به عوض جمع و جستجو را به جای تعیین به کار میبرد، و یک «تصویر» بسیار متواضع را از طریق جستجوی قصه های که لایه های مختلف فرهنگی، تاریخی و اجتماعی شهر را تشکیل میدهند، طراحی مینماید. در نتیجه از یک سو به سقوط احتمالی زمان فعلی و از جانب دیگر به مذاکرات در مورد امکان بازیابی جمعی اشاره مینماید. او بعد از تحقق درمورد تاریخ کابل با استفاده از نوشته ها و داستانهای شفاهی، آنعده از مناطق شهر را که ممکن است زمینه های مشترک را برای شریک ساختن خاطرات برجسته سازد، شناسایی نمود. سپس او مانند یک باستان شناس، به مطالعه نمونه های مغزی خاک میپردازد که منجر به بیان خاطرات جمعی شهر میشود. خاک استخراج شده از نقاط مختلف شهر که به شکل لوله های استوانه یی شکل درآورده میشوند، در باغ بابر به شکل موازی با همدیگر نصب گردیده اند. AV

## لارا فیواري□و

### په ۱۹۷۳ کې د ایټالیا په ټرویزو ښار کې زېږېدلې ده
### په ټورین کې ژوند کوي

د لارا فیواریټو انځورونه، ویډیوګانې، مجسمې، نقاشۍ او پر آرشیف ولاړې پروژې، زموږ د باورونو سیستم تحلیل کوي. هغه د ټولنیزو، فلسفي، نکلونو او فولکلوریکو منابعو پراخې لمنې ته نوې وړتیا وربخښي، سیاسي او هنري بڼه ورکوي او د مقاومت ډولونو ته یې اړوي.

د دیارلسم ډاکومنټا لپاره، د کاسل او کابل تر منځ ورته والی د دوې برخې لرونکې پروژې «Momentary Monument» (۲۰۱۲) له لارې ښودل شوی دی. هغه په کاسل ښار کې د موادو یوه کوټه چې د کثافاتو د ښخولو له ځای او د بیا کارولو له مرکزونو څخه ترلاسه شوي، پر سړک خالي کوي. لارا د دغو موادو د لویو ډېریو په منځ کې د تېرېدو پر مهال ځینې توکې بېرته راټولوي او په نږدې نندارتون کې یې د لرغونپوهنې د موزیمونو په توګه ننداري ته ږدي.

فواریټو دا ځل په کابل کې د زیاتونې پر ځای له لړونې او د فیصله کولو پر ځای له پلټنې څخه کار اخلي، او د هغو کیسو د څېړنې له لارې، چې د ښار بېلابېل کلتوري، تاریخي، او ټولنیز اړخونه جوړوي، یو ډېر متواضع «انځور» کاږي، چې په پایله کې له یوه اړخه د اوسني عصر بالقوه سقوط او له بلې خوا د احتمالي ټولیزې رغېدنې په اړه خبرو اترو ته اشاره کوي. هغه د لیکنو او شفاهي کیسو له لارې د کابل په تاریخ ځان پوهوي، وروسته، د ښار هغه سیمې معلوموي چې د یادګارونو د شریکولو لپاره یوه مشترکه زمینه جوړولای شي. بیا هغې د لرغونپوهنې د یوې موندنې په شان د خاورې پلټنه وکړه چې د ښار یو ټولیز یادګار وښیي. استوانه یي اجسام په موازي ډول د بابر په باغ کې درول شوي دي. AV

N° 1 ◁

## لیدا عبدل

### متولد سال ۱۹۷۳ در کابل
### مقیم در ایالت لاس انجلس و کابل

فلمها و نمایشنامه های شاعرانه ای لیدا عبدل نظریه های غربی را با سنن زیبایی شناسی اسلامی، بودایی و هندی که فرهنگ و هنر افغانستان را در تحت شعاع قرار داده است، با هم آمیزش میدهد. تحولات در معماری و تلفات انسانی در بسیاری از موضوعات مرکزی فلمهای وی را تشکیل میدهد، که به مثابه‌ای تعمق درمورد عواقب بعدی جنگ و حالت کنونی مسکن آبایی وی افغانستان، میباشد.

فلم وی بنام «چیزی را که ما بعد از بیداری دیدیم» (۲۰۱۱) یک گروهی از افراد را نشان میدهد که ریسمان های دراز به رنگ سفید را بطرف خود میکشند که با بقایای یک خانه که دراین اوآخر در طی یک انفجار در جوار کابل ازبین رفته بود، بسته شده اند. سپس آنها یک سنگ این تعمیر را دفن میکنند – یک رسم عنعنوی که ریشه اسلامی دارد و پیامد رستاخیزی را افاده مینماید. لیدا که اغلب اوقات با گروه مردم کار میکند، میگذارد که شرح فلمهای وی بشکل طبیعی استنتاج نماید، مانند فلم «عبور» (۲۰۰۸) وی که درآن کودکان به شکل معصومانه با اسکلیت یک طیاره روسی بازی مینمایند.

«چیزی را که ما نظرانداز نموده ایم» (۲۰۱۱) فلمی است که در کنار یک جهیل در جوار کابل تصویربرداری شده است. این فلم مقایسه میان تعهدات شیوه فکری ملیت گرایی و بی بهره بودن نهایی آن را دربر میگیرد. یک مرد میله‌ای بیرق را در حال داخل شدن در جهیل بدست دارد و لحظه‌ای بعد او تعادل خود را از دست داده و در جهیل غوطه ور میشود. لیدا میخواهد با کار کردن روی تصویرهای دور و نزدیک، که گاهی به شکل احساس افتخار و گاهی هم به شکل اضطراب دیده میشوند، رابطه بین فرد و سمبول های انتزاعی یک ملت را مورد بررسی قرار دهد؛ موضوع هویت، آداب و رسوم که مستلزم این رابطه هستند. ES

## لیدا عبدل

### په ۱۹۷۳ کال کې په کابل کې زیږېدلې ده
### په لاس انجلس ایالت او کابل کې ژوند کوي

د لیدا عبدل شاعرانه فلمونه او تمثیلي ټوټې غربي نظریې د اسلامي، بودایي او هندوییزم دودیزې ښکلا پېژندنې سره، چې د افغانستان کلتور او هنر یې اغېزمن کړی دی، یوځای کوي. ودانیز بدلونونه او بشري تباهی، له هغې جملې څخه د جنګ پاتې شوني او د هغې د پلرني ټاټوبي افغانستان اوسنی حالت، د هغې د ډېرو فلمونو موټیفونه جوړوي.

«هغه څه چې موږ تر ویښېدو وروسته ولیدل» (۲۰۱۱) یوه ډله خلک ښیي چې کابل ته نژدې د بمي چاودنې په وجه د یوه وران شوي کور پاتې شونې په اوږدو سپینو پړو تړلي دي او ځکوي یې. هغوی وروسته د ودانۍ یو کاڼی په ځمکه کې ښخوي. دا په مذهب ولاړ عمل دی چې اسلامي ریښه لري او د قیامت د ورځې ځرګندونه کوي. لیدا چې ډېر کله د خلکو له ډلو سره یوځای کار کوي، اجازه ورکوي چې د فلمونو کیسه یې په طبیعي ډول تکامل وکړي، لکه د هغې د «تېرېدل» (۲۰۰۸) په نامه فلم چې پکې افغان کوچنیان په معصومانه ډول د روسي الوتکې پر اسکلېټ باندې لوبې کوي.

د «هغه څه چې موږ سترګې پرې پټې کړې دي» (۲۰۱۱) په نوم یو فلم چې د کابل په نژدې سیمو کې د یو جهیل ترڅنګ ډک شوی دی، د ملتپالنې د مفکورې د ژمنو او د هغو د انتهایي بې ګټې توب ترمنځ مقایسه رانغاړي. په دې فلم کې یو سړي له جهیل څخه د پورې وتلو په حال کې د بیرغ لکړه په لاس کې نیولې ده، په هرو څو شېبو کې خپل انډول له لاسه ورکوي، او په جهیل کې ډوبېږي. آغلې لیدا د نږدې او لیرو انځورونو په کارولو سره، چې کله د ویاړ د احساساتو او کله هم د وېرې په بڼه څرګندېږي، د یو فرد او د یو ملت ذهني سېمبولونه سپړي؛ د هویت او دودیزو مسایلو موضوع چې دا اړیکي یې غوښتنه کوي. ES

N° 6 ◁

## برمک اکرم

### متولد سال ۱۹٦٦ در کابل
### مقیم در کابل، پاریس

هنرمند، دایرکتر فلم، نویسنده نمایش های رادیویی و تلویزیونی ، آهنگ ساز یکی از معروفترین فلمهای افغانی دهه اخیر «بچه کابلی» (۲۰۰۸) ومولف فلم های مستند. برمک اکرم در سبک کار خویش با رسانه های مختلف در ارتباط است.

وی کار های خود را «phytomorphic» میخواند، وی دربرابر بی شخصیت کردن با قاعده، تضعیف کردن و سوءاستفاده از رسانه های امروزی واکنش نشان میدهد. او در نهایت احتیاط صدها اعلان و پوشهای مجله ها را میچیند و آنرا به چهره ها، بازوها، ساقها، چشمها، گوشها، لبها را در برگها، درختها، میوه ها، ابرها و امواج تبدیل مینماید. بالای یک میز، یک مجموعه ازاین چیده شده ها توسط یک فلم کوتاه همراهی میشوند. فلم کاکاکو، در بین ولایت های کابل و بامیان تصویر برداری شده است، جایی که هنرمند بشکل تصادفی در قلعه یک کوه مجسمه یی را به شکل پیکر انسان را طراحی میکرد و توسط باران و بادها بالای یک صخره سنگی پیدا شده بود. فلم اکرم بالای یک رهگذر تمرکز میکند، کسیکه با ظهور انسان به یک تخته سنگ محلی طراحی شده برخورد میکند و با در نظر داشت سرنوشت مجسمه غول پیکر بوداهای بامیان، یک قوام مبهم را حفظ مینماید.

چندین اثر سفالی که به طور تصادفی در جریان سمینار‌در کابل توسط برمک اکریم ساخته شده اند، نیز در نمایشگاه داکومنتا (۱۳) به نمایش گذاشته شده است. AV

## برمک اکرم

### په ۱۹٦٦ کال په کابل کې زیږېدلی دی
### په کابل او پاریس کې ژوند کوي

هنرمند، د فلم ډایریکټر، سناریو لیکونکی، د وروستنۍ لسیزې د مشهور افغانی فلم «بچه کابل» (۲۰۰۸) د موسیقۍ کمپوزر او د مختلفو مستندو فلمونو لیکونکی دی. برمک په خپل کار کې د بېلابېلو رسنیو سره په تماس کې دی.

دی په خپلو کارونو کې چې پخپله یې «phytomorphic» بولي، د هغه څه پر وړاندې غبرګون ښیي چې په ننني رسنیو کې انسان په سیستماټیک ډول بې شخصیته کېږي، بې واکه کېږي او نامودبه کېږي. دی په احتیاط سره په لاس باندې اعلانونو او د مجلو پښتۍ پرې کوي او د انسان څېرې، سترګې، مټونه، پښې، غوږونه او شونډې راخلي او بیا یې په ونو، پاڼو، میوو، وریځو او څپو بدلوي.

د یو میز دپاسه دغه راټول شوي توکي له یوه نوي لنډکي فلم سره مله دي. کاکاکو ۲۰۱۲ هغه فلم دی چې د کابل او بامیان ولایتونو په منځ کې ډک شوی دی، هلته هنرمند تصادفاً د غره په یوه ګړنګ کې د انسان یوه مجسمه مومي چې باد او باران جوړه کړې ده. د اکرم په فلم کې په یوه لاروي تمرکز شوی دی. لاروی تصادفاً د سیمې یوې ډبرې سره مخ کېږي چې وربانديې د انسان شبحه انځور شوې ده. د بودا د سترې مجسمې برخلیک ته که وګورو، نو وینو چې دا مجسمه خپل ناڅرګند مقاومت جاري ساتي. دغه هنرمند وروسته تر دې چې خپله ګڼ شکلیزه پروژه یې بشپړه کړه، په کابل کې یو سیمینار جوړ کړ او د سیمنیار په نتیجه کې ده په ننداړتون کې ګڼ سیرامیک کارونه هم ننداړې ته وړاندې کړل. AV

N° 7 ◁

## خادم علی

### متولد سال ۱۹۷۸ در کویته (پاکستان)
### مقیم در سیدني و بامیان

خادم علی که در مهاجرت بزرگ شده است، رشته میناتوری کلاسیک را در پوهنتون ملی هنرهای شهر لاهور و نقاشی دیواری را در تهران آموخته است. فامیل او از بامیان که در انجا مجسمه های بزرگ بودا مربوط قرن ششم میلادی منهدم گردیدند، به کویته آمده بود.

پدرکلان علی شاهنامه را به حیث داستانهای وحدت فرهنگی آسیای مرکزی، برایش میخواند که دیدن تصاویر آن کتاب اولین درس های هنری علی را تشکیل میدهند. رستم، قهرمان شاهنامه یک جنگجوی قدرتمند است که توسط اعمال پرشکوه افتخار را از آن خود میکند. علی در مجموعه ای میناتوری های ظریف وطلا کاری اش به سبک نقاشی مغلی در سال ۲۰۰۷، به این اشعار رنگ دیگر میدهد و رستم را به یک دیو شاخدار تبدیل میکند که ریش دراز دارد.

پروژه ی علی برای داکیومنتا (۱۳) دارای دوبخش میباشد: چهار نقاشی میناتوری در شهر کاسل، که بیشتر قصه های اسطوره یی شاهنامه را در یک محتوای معاصر پیگیری میکند. بخش دوم ان سمیناری برای اطفال است که طرحی از یک مکتب هنری محسوب میشود و در تابستان سال ۲۰۱۲ در بامیان برگزار میشوند. ES/AV

## خادم علي

### په ۱۹۷۸ کې په کویټه (پاکستان) کې زیږېدلی
### په سیدني او بامیان کې اوسېږي

خادم علي چې په پاکستان کې د مهاجر په توګه لوی شوی دی، د لاهور د هنرونو په ملي پوهنتون کې یې د کلاسیکې میناتورۍ او بیا یې په تهران کې د دېوالي نقاشۍ او خطاطۍ تعلیم کړی دی. د هغه کورنۍ له بامیان (هزاره جات) څخه چې هورې د شپږمې میلادي پېړۍ د بودا لویې مجسمې ونړول شوې، راغلې وه. علي ته د هغه نیکه شاهنامه لوستله. شاهنامه د منځنۍ آسیا د کلتوري یووالي د کیسې حیثیت لري. د شاهنامې انځورونه د علي لپاره لومړني هنري درسونه وو. د هغې اتل، رستم چې یو پیاوړی جنګیالی و، د خپلو ښو کارونو له لارې ویاړنه خپله کړې وه. علي په مغولي هندي سبک په خپلو یو لړ نفیسو او طلاکاریو میناتوریو کې چې په ۲۰۰۷ کال کې یې پیل کړي، دغه شعر راسپړي او نوې بڼه ورکوي؛ رستم په ښکرور دېب بدلوي، چې لویه ږیره لري.

د dOCOMENTA (13) لپاره د علي پروژه دوې برخې لري. اوله برخه یې په کاسل ښار کې څلور میناتورۍ دي چې د شاهنامه د اسطوره یي نکلونو معاصر مفهوم راسپړي. دویمه برخه یې د ماشومانو لپاره سیمینار دی چې د هنر د یوه مکتب د خاکې په توګه ګڼل کېږي او د ۲۰۱۲ کال په اوړي کې په بامیان کې ترسره کېږي. ES/AV

N° 10 ◁

## فرانسس الیس

### متولد سال ۱۹۹۵ درانتویرپ در بلجیم
### مقیم در مکسیکو

فرانسس الیس هنر را با قدم زدن در کوچه های شهر مکسیکو، زندگی روزانه توسط سلایدها، ویدیوها، پوست کارتها با عطف توجه به مداخلات اجرایوی که بسیار ساده در عین حال شاعرانه نیز است، آغاز نمود. عمل قدم زدن همچنان موضوع مرکزی در بسیاری از رسامی ها، نقاشی های مختصر و فلمهای زنده وی قابل ملاحظه میباشد. فلم الیس بنام «Reel – Unreel» یا «متوالی – غیر متوالی» که در افغانستان برای داکیومنتا (۱۳) از علاقه وی به بازی های اطفال در کوچه مانند هنر لولک دوانی توسط یک چوب، که وی در بامیان و کابل مشاهده نموده بود، منشاء میگیرد. عنوان فلم به تصویر واقعی / غیر واقعی افغانستان اشاره میکند که توسط رسانه ها به غرب رسانیده شده اند. چگونگی شیوه ای زندگی افغانها با یکدیگر، غیر انسانی شدن تدریجی بعد از چندین دهه جنگ، به یک افسانه ای غربی مبدل شده است. اکنون «واقعیت» به «حلقه فلم» تبدیل میشود، زیرا که دور زدن موتر در اطراف سرک های موج دار شهر کهنه کابل خود یک حلقه فلم است.

فلم های الیس اغلب با مطالعات پست کارتی و نقاشی ها همراه میباشند، که در این کار عرف نقاشان جنگ را انعکاس میدهد. وی با رسامی کردن در سفرهای متعدد در جریان سفر به ساحات احاطه شده توسط کوه های افغانستان، که در عین زمان مناطق جنگی اند، میخواهد دریابد که شرایط جنگی چگونه میتواند دریافت های یک هنرمند را دگرگون سازد. ES/AV

## فرانسس الیس

### په ۱۹۹۵ کال په اتنویرپ، بلجیم کې زیږېدلی
### په مکسیکو ښار کې ژوند کوي

فرانسس الیس د مکسیکو په کوڅو کې د ګرځېدو پر مهال هنر پیل کړی دی. ده ورځنی ژوند د سلایدونو، ویډیوګانو پوست کارډونو او اجرایوي مداخلو ته د پام کولو په وسیله – چې هم ساده دی او هم شاعرانه – ثبت کړی دی.

د قدم وهلو عمل په بلا انځورونو، موءجزو نقاشیو او فلمونو کې د نوموړي مرکزي موټیف دی. د الیس REEL – UNREEL فلم چې په افغانستان کې د ډاکیومنټا (۱۳) له پاره برابر شوی دی، په کوڅو کې د کوچنیانو له لوبو سره د ده له لېوالتیا څخه سرچینه اخلي، لکه د لولک ځغلولو لوبه، چې ده په بامیان او کابل کې لیدلې وه. د فلم نوم د افغانستان واقعي او نا واقعي (real – unreal) انځور ته اشاره کوي، چې د رسنیو په مټ تر غربه رسېدلی دی او ښیي چې: څنګه د افغانانو ژوند او خلک ورو ورو نا انساني بڼه غوره کړې او تر څو لسیزو جګړو وروسته څنګه د غربیانو په افسانه بدل شوی دی. دلته واقعیت «real» په «reel» بدل شوی دی ځکه چې هغه لولک چې د کابل د زاړه ښار پر کنډو و کپر سړکونو څرخي را څرخي، د فلم یوه حلقه «reel» ده.

د الیس فلمونه غالباً د پوست کارډ په اندازه د کاغذ او ټاټ د ټوټو له مطالعاتو سره تړلي دي چې په دې توګه د جګړې د نقاشانو دود منعکسوي. هغه د افغانستان بېلابېلو زړه راښکونکو غرنیو سیمو ته په خپلو ګڼو سفرونو کې رسامۍ کړي دي. دا سیمې په عین وخت کې جنګي سېمې هم وې او د ده مطلب دا و چې وښیي چې څنګه جنګي شرایط د یوه هنرمند ادراک او تولیدات بدلوي. ES/AV




N° 64 ◁
N° 75 ◁
N° 169 ◁

## عبدالقاسم فوشنجی

**در سال ۱۹۸۷ در هرات، افغانستان متولد شده است**
**مقیم در کابل**

## زینب حیدری

**در سال ۱۹۸۰ در کابل به دنیا آمده است**
**مقیم در کابل**

## محسن تعشا

**در سال ۱۹۹۱ در کابل به دنیا آمده است**
**در کابل زندگی میکند**

سه هنرمندی که اینجا معرفی شده اند، در سال ۲۱۰۲ در سیمینار های دایر شده از سوی dOCUMENTA (13) در کابل اشتراک کرده بودند. آنها تلاش نموده اند تا داینامیک تجربه های درونی و بیرونی زندگی در بین جامعه معاصر را بیان کنند، بناً راه نزدیک شدن به پرکتیس هنرهای معاصر را با دیگران شریک میکنند.

این هنرمندان که به طور سنتی در نقاشی و میناتوری آموزش دیده اند، با کار های سمعی و فضایی خود روش بیان غیر مستقیم را به وجود اورده اند. عبدالقاسم فوشنجی در زمان اقامت در ایران نقاشی ریالیستیک را مختصراً مطالعه کرده است و بعداً موسیقی را کشف نموده در نتیجه کار مختلط رسانه یی خود را از دید «psychedelic heavy metal» مینگرد او کارهای را ایجاد کرده است که گوشه های تاریک طبیعت انسان را میکاود و بیدار میکند. فوشنجی یک پارچه موسیقی را به شکل وسیله یی ارایه میکند که به ناهدفمندانه در فضا پخش میشود و فضای قبلاً منظم داخل چهاردیواری را به فضا یی مبدل میکند که دهل نا منظم شهری در فضای خارج چهاردیواری را تقلید میکند.

زینب حیدری در سال سوم تحصیل خود در فاکولته هنرهای زیبا ی پوهنتون کابل، ارتباط تغییر پذیر میان درگیری و نجات را در نقاشی های خود به کاوش میگیرد، او از یک دیدگاه صمیمی واقعیت های روزمره، احساسات درونی را به حرکت میاورد. حیدری یک کار هنری را پیشکش میکند که حکایت شاعرانه را به شکل سیلابی از رنگ ها و شکل ها باز تفسیر میکند. این کار وسیله ی است که احساسات برانگیخته شده ی درونی از راه شاعری منطقه را که قابل توضیح نمی باشند، به نمایش میگذارد.

محسن تعشا فارغ التحصیل فاکولته هنرهای زیبا ی پوهنتون کابل، سنت میناتوری را از یک دید تقریباً سوریالیستیک طبیعی باز تفسیر میکند. این یگانه محل در دنیای طبیعی و مصنوعی است که جواب های جستجو شده را تهیه نمیکند، مگر در اینجا انسان به شناخت خود دست میابد. در اخیر تعشا بر تولیدات معاصر هنری در مورد شناخت رازهای طبیعت انسانی و شناخت از تناقضات وابسته به راز های تقریباً پنهانی ان، اتکا نموده و جستجوی همیشگی پاسخ ها به وسیله سخنان مرموز را نه تنها در افغانستان بلکه در تمام جهان بازتاب میدهد. AM/AV

## عبدالقاسم فوشنجي

**په ۱۹۸۷ په هرات، افغانستان کې زېږېدلی دی**
**په کابل کې اوسېږي**

## زينب حيدري

**په ۱۹۹۰ په کابل کې زېږېدلې ده**
**په کابل کې اوسېږي**

## محسن تعشا

**په ۱۹۹۱ په کابل کې زېږېدلی دی**
**په کابل کې اوسېږي**

دغه درې هنرمندان چې دلته معرفي شوي دي، په ۲۰۱۲ کې په کابل کې د ډاکيومنټا (۱۳) له خوا جوړ شويو سيمينارونو کې ګډون کړی و. دوی هڅه کړې ده چې په معاصره ټولنه کې د اوسېدو د دروني او بيرونيو تجربو ډاينامیک بيان کړي نو د معاصرو هنرونو پرکټيس ته د ورنژدې کېدلو يوه لاره له نورو سره شريکوي. دغه هنرمندان چې په دوديزه توګه په میناتورۍ او نقاشۍ کې روزل شوي دي، د خپلو فضايي او سمعي کارونو په وسيله د نامستقيمې وينا طريقه رامنځته کوي. عبدالقاسم فوشنجي په ايران کې د استوګنې پر مهال ريالیستيکه نقاشي په لنډه توګه مطالعه کړې وه، وروسته يې بيا موسيقي کشف کړه او په نتيجه کې يې د «psychedelic heavy metal» له نظره خپل ګډ رسنيز کار ګوري، دی داسې کارونه پنځوي چې د انساني طبيعت تياره اړخونه راسپړي او راويښوي. فوشنجي د موسيقۍ يوه ټوټه وړاندې کوي چې بې هدفه به په فضا کې خپرېږي او د داسې وسيلې په توګه کار کوي چې د څلورو دېوالونو په منځ کې منظمه داخلي فضا په داسې فضا بدلوي چې د چاردېوالۍ د باندنۍ دنيا د ګډوډ ښاري ډول غږ تقليدوي.

زينب حيدري د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو په پوهنځي کې د خپل تحصيل په درېم کال کې، په خپلو نقاشيو او عکسونو کې د نښتې او ژغورنې تر منځ بدلېدونکي ارتباط څېړي، د ورځني واقعيت له يوه صميمي ليدلوري دروني احساسات په حرکت راولي. حيدري يو هنري کار وړاندې کوي چې شاعرانه حکايت له سره د شکلونو او رنګونو په بصري سيلاب تفسيروي. دا کار داسې وسيله ده چې د سيمې د شاعرۍ له لارې راپارېدلي دروني احساسات چې بل رقم د توضيح کېدلو نه دي، سترګو ته دروي.

محسن تعشا د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو د پوهنځي فارغ التحصيل، د میناتورۍ دود د يوه تقريباً طبيعي سوريالیستيک روش له مخې بيا تفسيروي. دا په طبيعي او مصنوعي نړۍ کې يوازينی ځای دی چې هغه ځوابونه نه برابروي چې لټول کېږي، خو په دې ځای کې سړی ځان پېژندنې ته رسېږي. په پای کې تعشا د انساني طبيعت د رازونو پر پوهېدلو او پر تقريباً پټو رازونو او په هغو پورې تړلو تناقضاتو باندې معاصرو هنري توليداتو ته په ځانګړي نژدې کېدو اتکا کوي او نه يوازې په افغانستان کې بلکې په ټوله دنيا کې، د مرموزو خبرو په وسيله د ځوابونو همېشنی لټون منعکسوي.AM/AV

منزل اول / لم□ی پو□




منزل اول و زیر زمینی / لم□ی پو□ او زیر زميني
باغ بابر و باش□اه / دبابر ب□ او ننداړتون




# قص ملکه / د ملک□ ما□□
# باغ بابر / د بابر ب□
# باش□اه / ننداړتون

▼ هنرمندان

منزل اول / لوم□ی پو□

- ◁ 69 ماریو گارسیا توریس / ماريو ګارسيا توريس
- ◁ 71 جینو کوسی / جيانو غوڅي
- ◁ 72 مریم غنی / مريم غني
- ◁ 91 مسعود کمندی / مسعود کمندي
- ◁ 118 امان مجددی / امان مجددي
- ◁ 143 ولید رعد / وليد رعد
- ◁ 184 کلیمنس ون ودیمیر / کليمنس ون وديمير
- ◁ AF افغان فلم

▼ هنرمندان

حویلی ( سرای ) / ان□□ ( سرای )

- ◁ 179 ادرین ویلر رویاس / ادرين ويلر روياس

▼ هنرمندان

زیر زمینی / زیر زميني

- ◁ 162 وایل شوکی / وايل شوکي

▼ هنرمندان

منزل اول / لوم□ی پو□

- ◁ 1 لیدا عبدل / ليدا عبدل
- ◁ 6 برمک اکرم / برمک اکرم
- ◁ 7 خادم علی / خادم علي
- ◁ 10 فرانسیس الیس / فرانسيس اليس
- ◁ 26 ژیرام بل / ژيرام بل
- ◁ 34 آندریا بتر / آندريا بتنر
- ◁ 48 تاسیتا دین / تاسيتا دين
- ◁ 61 لارا فاواریتو / لارا فاواريتو
- ◁ 64 عبدالقاسم فوشنجی / عبدالقاسم فوشنجي
- ◁ 75 زینب حیدری / زينب حيدري
- ◁ 106 گوشکا مچوگا / گوشکا مچوگا
- ◁ 128 رهرو عمرزاد / رهرو عمرزاد
- ◁ 144 مائیکل راکوویتز / مايکل راکوويتز

- ◁ 163 زلیخا شهرزاد / زليخا شهرزاد
- ◁ 169 محسن تاشا / محسن تاشا
- ◁ 191 زلمی / زلمي
- ◁ CS شاگردان سیمینار سرامیک / د سرامیکو د سیمینار زده کوونکي

▼ هنرمندان

باغ بابر و باش□اه / دبابر ب□ او ننداړتون

- ◁ 93 ویلیام کنتریج / ويليم کنټريج
- ◁ 133 جیوسوپ پینون / جيوسوپ پينوني

▼ هنرمندان

گالری ملی کابل / د کابل ملي □الر□

- ◁ مشترکین سیمینار که تحقیقات را می بینند / په سیمینار کې هغه ګډون کوونکي چې څیړنې ويني



دغه سیمینار د ډله ییزي نندارې «نامتجانسه ترجمه – د لیدیزو مطالعاتو سیمینار: پریزنټېشن» په واسطه د کابل په ملي ګالري کې جوړېږي او د صدر حقیقیان او سپاهوند له خوا د ګډونوالو شاګردانو په ملتیا دایرېږي. نندارتون چې د ۲۰۱۲ د جون په ۲۱ نېټه پرانیستل کېږي، د بابر باغ او د ملکې ماڼۍ له نندارتونونو سره هم مهاله روان وي. د دې نندارتون ګزارش په افغانستان کې د dOCUMENTA (13) په ا ړه یوې میاشتنۍ کې د موسې، میلان د انتشاراتو له خوا او په سپیده مجله کې چې پخوا به د مهاجرو افغان فرهنګیانو له خوا په پاکستان کې خپرېدله او اوس یې کلید ګروپ چاپوي، خپرېږي.

۲۰۱۲ / ۴ / ۱۴ – ۴ / ۱۱

**آرشيفي کارونه**

ځای: کابل، افغان فلم

سیمینار د انځورګرې مریم غني او آشوک سوکوماران او شاینا اناند (CAMP and pad.ma) له خوا تدویر شوی و. سیمینار پر تیوریکي او تاریخي ځمکه جوړ و. تیوریکي ځمکه یې د پرانیستو منبعو د رسنیز آرشیف نوښتونه وو چې د pad.ma له خوا وښودل شو. تاریخي ځمکه یې بیا د افغان فلم آرشیف و چې هورې د فلمونو زرګونه کسټونه شته چې د افغانستان د شلمې پېړۍ د تاریخ زیاته برخه رانغاړي. د سیمینار رهبران د افغان فلم له ډلې سره کار کوي چې له آرشیفه، لومړی د مستندو فلمونو او خبري شاټونو د فلمونو کسټونه انتخاب کړي او غوره کړي کسټونه ډیجیټلي کړي او بیا اوسني او پخواني ډیجیټلي شوي فلمونه د پرانیستې منبع په زېرمتون کې چې د pad.ma له خوا تاسیس شوې، تنظیم کړي. وروسته بیا سیمینار پرانیستل کېږي چې د افغان فلم نور کارکوونکي او د ډاکیومنټا (۱۳) د محصلانو د ګروپ نور ګډون کوونکي محصلان هم په کې شامل شي چې د آرشیفي اندازه کولو پر لید په زړه پورې بصیرت لري. دغه ډله روزل شوې ده او پر ډیجیټلي فلمونو د حاشیه لیکنې پروسه پیلوي. په حاشیو کې داسې معلومات لیکي چې فلمونو ته لا زیاته معنا او ځرګندتیا بخښي. دا کار فرعي عنوانونه، د پروډکشن یادښتونه، شخصي خاطرې او معیاري نښه لګول رانغاړي چې له خلکو سره مرسته کوي چې خاص فلمونه په ان لاین ډیټا بېز کې پیدا کړای شي.

۲۰۱۲ / ۴ / ۲۱ – ۴ / ۱۵

**اکټونه، نندارېز حرکتونه، شیان او پروسې: شیان او کړنې**

په بابر باغ کې، افغانستان لپاره د فرانسوي انسټیټوټ، استلاف، ملي تیاتر، او د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو په پوهنځي کې جوړ شوی و.

دغه سیمینارونه او عامه لکچرونه د انځورګر برمک اکرم، ژیرام بل، لارا فاوریټو، ګیوسپي پینوني او انډریا ویلیار راجس له خوا دایر شول. دغه سیمینارونه پر نندارېزو کړنو او د مجسمه جوړونې لپاره پر هغو موادو څرخي چې په ورځني ژوند کې یې په خپل شاوخوا کې وینو. همدارنګه له بحرانه وروسته وضیعت کې له تازه نمایشي تمرینونو سره تړاو لري. لومړی سیمینار چې یو ډله ییز بدیهي کار ګڼل کېږي د انځورګر او فلم جوړونکي برمک اکرم له لوري چلول کېږي. برمک د لومړي ځل لپاره په سیرامیک باندې کار کوي او د بڼې د اوښتلو او تجسم تصورونه سپړي. سربېره پر دې انځورګر او کوریوګرافر ژیرام بل په کابل کې له ممثلانو سره کار کوي چې د ده یوه نندارېزه ټوټه چې په ۲۰۰۴ کې یې د پاریس د اوپرا د یوې نڅاګرې لپاره جوړه کړې وه او نوم یې و «ویرونیک دویسني» ولوبوي. دغه نندارېزه ټوټه شخصي رول له تاریخي هغه سره، تیاتري له سیاسي سره او د نڅاګر او یوه نندارچي رولونه سره نښلوي. دوه نور هنرمندان لارا فاوریټو او انډریا ویلیار راجس خپل تصور او د خپلو کارونو تولیداتي پروسه د سیمینار له ګډونوالو سره شریکوي. دوی دغه پروسې په موادو او د کار په یوه جز بدلوي. ګیوسپي پینوني بیا په بابر باغ کې خپله اختراع وړاندې کوي چې دا د کاسل په کارلساو پارک کې د ده له بلې اختراع سره تړاو لري.

۲۰۱۲ / ۵ / ۱۷ – ۵ / ۱۲

**فوټوګرافیک معلومات**

د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو په پوهنځي کې جوړ شوی و سیمینار د انځورګر مسعود کمندي له خوا پرمخ بېول کېده.
دا سیمینار د هغه بل سیمینار دوام دی چې همدغه انځورګر په ۲۰۰۵ کال کې د ښکلو هنرونو په پوهنځي کې پر انالوګ فوټوګرافۍ باندې جوړ کړی و. کمندي سیمینار ته له ځاني پلټنې سره ورنژدې کېږي. دی د ټکنیکي لیدلوري پر ځای تحلیلي هغه کاروي او په کابل کې له ځینو موسسو لکه ملي آرشیف څخه استفاده کوي چې د تصویر د تولید او اختصاصي کولو لپاره د موادو ادرس ورکړي.
په بامیان کې سیمینارونه په بامیان کې لرغوني ځایونه او د یونیسکو او MoIC له خوا روزنیز مرکزونه

۲۰۱۲/ ۵ / ۷ – ۵ / ۱

**څه دوړې به پورته شي؟**

پرانیستی سیمینار دی چې د انځورګر مایکل راکوویټز له لوري د برټ پراکسینتالر په همکارۍ او د عباس الله داد په ګډون پر مخ بېول کېده.

دغه سیمینار د پخوانۍ دودیزې حجارۍ پر احیا تمرکز لري. دغه حجارې د بامیان په ډبرو او همدارنګه بند امیر ته نژدې د ښامار د درې په چونه یي او اورغورځونکې ډبرو باندې کېږي. د سیمینار عنوان له یوه متل څخه چې وایي: «د یوه سپاره به څه دوړه وي؟» اخیستل شوی دی. سیمینار د بامیان په یوه لرغوني ځای کې، په یوه لوړه لویه سمڅه کې، هغو دوو تاخچو ته نژدې چې تر لاندې یې د بودا مشهورې مجسمې په پېړیو پېړیو ولاړې وې، جوړ شوی و. د سیمینار وروستۍ نتیجې په کابل کې د ډاکیومنټا (۱۳) په نندارتون کې وړاندې کېږي ورسره به یوه وړه ډبره چې همدې هنرمند په کې کتاب حک کړی دی، هم نندارې ته ایښې وي.

۲۰۱۲ / ۶ / ۱۹ – ۶ / ۱۲

**د شاهنامه لوستلو احیا کول**

په بامیان کې د یونیسکو او MoIC روزنیز مرکز
بند سیمینار د خادم علي له خوا

سیمینار د شاهنامه د کیسو د لوستلو له منځه تللی کلتور منعکسوي. د خادم علي په وینا: «د شاهنامه جامع حماسه، موږ ته د پاچاهانو، پاچاهیو، دېوانو، تیارو او رڼاګانو کیسې کوي. دغه منظومه حماسه حکیم ابوالقاسم فردوسي د ۱۰۱۰ میلادي کال په شاوخوا کې، د سلطان محمود غزنوي په دربار کې د افغانستان په غزني ولایت کې لیکلې وه. شاهنامه د مرکزي اسیا او افغانستان د کلتوري یووالي روایت دی چې په توکمیزو او مذهبي سرحدونو نه ایسارېږي. دغه څرګندونې د هنر د تاریخ او د هنر د پیلولو لپاره زما لومړنی درس و. زه غواړم چې په ښوونځیو کې یو سیمینار جوړ کړم چې د نکل ویلو له لاسه تللی کلتور بیا راژوندی کړم.»



این سمینار توسط نمایش گروپی «ترجمه نامتجانس – سمینار مطالعات دیداری: پریزنتیشن» در گالری ملی کابل منعقد میگردد و توسط صدر حقیقیان و سپاهوند به همراهی شاگردان اشتراک کننده برگزار میشود. نمایشگاه که در ۲۱ جون ۲۰۱۲ افتتاح میشود، همزمان با نمایشگاه باغ بابر و کاخ ملکه به راه میافتد. گزارش این نمایشگاه در یکی از ماهنامه های مرتبط با dOCUMENTA (13) در افغانستان توسط انتشارات موسه، میلان، و مجله سپیده که قبلاً توسط فرهنگیان مهاجر افغان در پاکستان نشر میشد و در کابل توسط کلید گروپ به چاپ میرسد، نشر میشود.

۲۰۱۲ / ۴ / ۱۴ – ۴ / ۱

**آرشیف منحیث یک قاعدء مؤثر**
برگزار شده در افغان فلم، کابل

سیمینار فوق توسط مریم غنی با همراهی آشوک سوکومارا و شاینا آنند (کمپ و پاد.ما)

این سمینار زمینه های تیوریکی و تاریخی دارد. زمینه تیوریکی ان ابتکار منابع باز آرشیف رسانه یی بود که Pad.ma نشان داد. زمینه تاریخی ان مربوط آرشیف افغان فلم می شود که در آنجا هزاران کست موجود است که قسمت اعظم تاریخ قرن بیستم افغانستان را احتوا میکند. رهبران سیمینار با گروه افغان فلم کار میکنند تا ابتدا از آرشیف مذکور فلم های مستند و کست های خبری را انتخاب کنند او بعد کست های انتخاب شده را دیجیتلی کنند، بعداً کست های دیجیتلی شده قبلی و فعلی را در ذخیره گاه منبع باز که توسط Pad.ma تاسیس شده است، تنظیم کنند. به تعقیب آن سیمینار بازگشایی می شود که در آن کارمندان دیگر افغان فلم و اشتراک کننده دیگر گروپ محصلان داکیومنتا (۱۳) شامل می شوند که آنها بر مسایل پیمایش آرشیفی بصیرت جالبی دارند. این گروپ تربیت یافته در ارکان آرشیف پروسهٔ بی پایان حاشیه نویسی را آغاز مینماید تا فلمهای دیجیتال شده را با معلومات که آنرا معنی و مفهوم غنی میدهد، زیر نویس ها، نوتهای پرودکشن، یادداشتها و واکنش های شخصی، وتگ های استاندارد که میتواند با مردم کمک نماید تا که فلم ها و کلیپ های معین را در داتابیس آنلاین به آسانی پیدا کنند.

۲۰۱۲ / ۴ / ۲۱ – ۴ / ۱۵
(و تواریخ مختلف: جون ۲۰۱۲)

**کردارها، اداها، اشیا و پروسه ها: مواد و عملکرد**
محل تدویر، باغ بابر، توسط انستیتوت فرانسه برای افغانستان، استالف، تیاتر ملی، و فاکولتهٔ هنرهای زیبای پوهنتون کابل

سیمینارها و لکچرهای عامه توسط هنرمندمندان برمک اکرم، جروم بیل، لارا فواریتو، گیوسپی پنونی، و آدریان ویلار روهاس توجه این سیمینارها بالای عملکردهای نمایشی و مواد هیکل تراشی (مجسمه سازی) که از محیط روزانه بدست میایند میباشد و همچنان رجوع به شیوهٔ معاصر بر اساس عملکردهای نمایشی در قرینهٔ بعد از ضربات روانی یا تروما، دارد. سیمینار اول که منحیث یک نقش گذاری ارتجالی، توسط هنرمند و فلم ساز برمک اکرم پیش برده میشود، او برای اولین بار از سرامیک کار میگیرد، و اندیشهٔ دگرگون سازی و تجسم را جستجو میکند. اضافه بر آن، هنرمند و کوریوگرافر ژیرام بل، با اکتوران در کابل کار میکند تا یک پارچه ی بنام «ویرونیک دویسنو» را که او برای یک رقاصهٔ اوپرای پاریس در سال ۲۰۰۴، ساخته بود، تمثیل کنند. کار این پارچه اتصال بخشیدن رول های شخصی با تاریخی، تیاتری و سیاسی، نقش رقاص و بیننده، میباشد. هنرمندان لارا فاواریتو و آدیرین ویلر رویاس پروسهٔ پرودکشن کارخویش را به اشتراک کنندگان سیمینار شریک میسازند. آنها این پروسه را نیز به برخی از مواد کاری خویش تبدیل میکنند. جیوسپی پینونیی اختراع خود را با اشتراک کنندگان در باغ بابر در میان گذاشته و اشارهٔ به اختراع مشابه خویش در پارک قصر کارلساو دارد.

**معلومات در مورد عکاسی**
**مکان اجرا:** فاکولتهٔ هنرهای زیبا، پوهنتون کابل
**دایر کننده:** هنرمند مسعود کمندی

این سیمینار رجوع دوباره و پی گیری سیمینار قبلی که در مورد عکاسی آنالوگ در سال ۲۰۰۵ توسط هنرمند مذکور دایر گردیده بود، میباشد. آقای کمندی این سیمینار را از بازجویی خودی آغاز نموده، و از دیدگاه تحلیلی به آن مینگرد نه تخنیکی. وی، از انستیتیوت های کابل مانند آرشیف ملی کار میگیرد تا موضوعات پرودکشن عکس و اختصاصی آنرا جواب گوید.

**سیمینارها در بامیان**
ساحهٔ باستانی و مرکز آموزشی یونیسکو و ریاست اطلاعات و فرهنگ در بامیان

۲۰۱۲ / ۵ / ۷ – ۵ / ۱

**چی خاکباد بر خواهد خواست؟**
سیمینار باز برای همه که توسط هنرمند مایکل راکوویتز و به اشتراک عباس الله داد اداره میشود.

توجه این سیمینار بالای احیای مجدد عنعنهٔ حکاکی سنگی میباشد، که از سنگ های بامیان و سنگ های آهک و آتش فشانی درهٔ اژدها و بند امیر کار گرفته خواهد شد. عنوان این سیمینار از ضرب المثل در مورد همکاری برخواسته که میگوید، خاکباد یک سوار چی خواهد بود؟ این سیمینار در ساحهٔ باستانی بامیان، در داخل دو مغاره بلند، نزدیک به تپهٔ بامیان، جاییکه بت های بامیان برای چندید قرن استاده بودند، برگزار میشود. آخرین محصول این سیمینار، همراه با یک کتاب کوچک حکاکی شده در سنگ توسط خود هنرمند، در داکیومینتا (۱۳) نمایشگاه کابل به نمایش گذاشته خواهد شد.

۲۰۱۲ / ۶ / ۱۹ – ۶ / ۱۲

**بازخوانی شاهنامه**
یونیسکو/ ریاست اطلاعات و فرهنگ در بامیان
سیمینار محدود (بسته) توسط هنرمند خادم علی

این سیمینار بازتاب دهندهٔ فرهنگ از میان رفتهٔ قصه خوانی شهنامه است. به گفته خادم علی: «حماسه های جامع شاهنامه از شاهان، سلطنت ها، دیوها، تاریکی ها و روشنایی ها، حکایت میکند. این منظومه های حماسی در دربار سلطان محمود غزنوی در ولایت غزنی تقریباً در سال ۱۰۱۰ میلادی توسط شاعر حکیم ابوالقاسم فردوسی نوشته شده بود. شاهنامه یک نوشتهٔ متحد کننده میان آسیای مرکزی و افغانستان است و از مرز های نژادی و مذهبی عبور میکند. ...تصویر های شاهنامه اولین درسهای من در تاریخ هنر و آغاز هنرمندی من بود. من میخواهم که سیمینارها را در مکاتب راه اندازی نمایم تا فرهنگ از بین رفته ی قصه خوانی را مجدداً زنده نمایم.»

# په کابل ک□ سیمینارونه او لکچرونه

۷ / ۶ / ۲۰۱۰

**د ډاکیومنټا او د هغې د تاریخ په اړه**
زیارت تیمورشاه

عامه لکچر د کارولین کریستوف باکرګیف له لوري چې تر هغه وروسته د مایکل ټاوسینګ، فرانسیس الیس او ماریو ګارسیا ټوریس پریزنټېشنونه وو.

۵ / ۲ – ۸ / ۲ / ۲۰۱۲

دد لکچرونو او سیمینارونو د لړۍ پیل، له یوه عامه مېلمستیا سره مل وي چې د هنرمند ګوشکا مکوګا له خوا د ۲۰۱۲ د فبرورۍ په پنځمه په بابر باغ کې ترسره کېږي چې هورې به د افغاني مدني ټولنو غړي په نارسمي ډول سره ګوري او خبرې اترې به سره کوي. عکسونه اخیستل کېږي چې هغه پرده جوړه کړي چې هنرمند یې د ډاکیومنټا (۱۳) لپاره د کاسل په فریډریشیانوم کې ننداريږ ته ږدي. په سیمینار کې (په لومړي ګروپ کې) دغه شاګردان ګډون کوي: عبدالمومن حمیدي، عبدالقاسم فوشنجي، احمد ولي اکبر، امین، آرزو وثیق، اسدالله برومند، آیت الله احمدي، فرزانه معاني، غلام رضا، ګل بیده، جهان آرا، کریمه حسن زاده، لیزا حسن زاده، مریم نبیل کمال، مهدي امیني، محمد امین، محمد جمعه، محمد رضا، محمد تمیم صاحبزاده، مهدي حسن زاده، علي اخلاقي، محسن واحدي، نبیلا هورخش، نجیب الله، سید داوود، شهلا رشیدي، شمسیه ام البنین حسني، تمنا بارکزۍ، یلدا نوري، زهرا محبت زاده، او زینب حیدري.

**د هنر تاریخونه د نوټونو په بڼه**

په بابر باغ کې د ملکې په ماڼۍ او لویه خیمه کې، د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو په پوهنځي کې او په «ون هوټل» کې دایر شوي وو.

۵ / ۲ / ۲۰۱۲

د هنر، تخیل، تجربه او ژوند په اړه عامه لکچر (کریستوف مینکي) او «د ګوشکا مچوګا هنر» لکچر (کارولین کریستوف باکرګیف) او ورپسې د کریستوف مینکي له لوري سیمینار.

۶ / ۲ / ۲۰۱۲

د «ژباړې هنر: کلیدونه او موقعیتونه» عامه لکچر د کارولین کریستوف راکرګیف له خوا او ورپسې د ګوشکا مچوګا له خوا یو سیمینار.

۷ / ۲ / ۲۰۱۲

«د نولسمې پېړۍ له اخرو د شلمې پېړۍ تر لومړیو کلونو پورې په افغانستان کې د هنر د غربي سبکونو او د هغوی د اغېز معرفي» عامه لکچر چې د حمید نوید له خوا وړاندې شو او ورپسې بیا حمید نوید د یوه سیمینار رهبري وکړه.

۸ / ۲ / ۲۰۱۲

عامه لکچر پر دې باندې چې «یو شی څه مهال هنر وي؟ هله چې زړه وتخنوي» د چوس مارتینز له خوا او ورپسې د ده او ماریو ګارسیا ټوریس له خوا یو سیمینار او بیا د الیګیرو بویټي د پخواني «ون هوټل» لیدنه

۱۱ / ۲۰ – ۸۱ / ۲۰ / ۲۱۰۲

د هنري مجلې پنځول: د زمینو ازمویل/ د ژبې موندل د کابل پوهنتون د افغانستان په مرکز کې د افغانستان د معاصر هنر مرکز او کلید ګروپ له خوا

د موسې مجلې له پرسونل (ایډوارډو بوناسپاټي، سټیفانو سیرنوچي، فرانسیسکو والټولینا)، د ډاکیومنټا (۱۳) له استازې لیزا احمدي، هنرمند جیانو ګوسي، د ډاکیومنټا (۱۳) د کور ایجینټ ګروپ استازیو رایموندېاس مالاشاوسکاس، انځورګر امان مجددي، انځورګر رهرو عمرزاد او کلید ګروپ سره سیمینار.

دغه سمینیار په کابل کې د یوې هنرې مجلې د جوړولو لپاره د ډله ییزو هڅو پر محور څرخېده. د سیمینار هدف دا و چې وپوهېږو کومې خبرې او کوم مواد د مجلې برخه ګرځېدای شي. وغوښتل شو چې ځایي محصلین دې د مجلې په چارو کې په فعاله توګه شامل شي، دغه ایډیتوریال نوښت ګڼ اړخیز ګڼل کېږي: د میاشتنۍ بولیټن په بڼه، د داسې بلاګ په توګه چې په افغانستان کې د ډاکیومنټا (۱۳) د فعالیتونو په اړه معلومات په کې موندلای، غوره کولای او ایډیټ کولای شو او د مجلې د وروستۍ نمونې په شکل چې پخواني بولیټنونه سره یو کوي او همدارنګه په کابل کې ننداړتون رانغاړي.

۱۹ / ۲ – ۲۶ / ۲ / ۲۰۱۲

**پر نني هنر باندې کتنه**

د افغانستان د معاصر هنر په مرکز او د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو په پوهنځي کې تدویر شوي

سیمینارونه د لیزا احمدي، امان مجددي او انډریا ویلیاني له لوري رهبري کېدل.

دغه سیمینارونه د زمان او مکان په تړاو د معاصر کلتور په شرایطو کې، د ډاکیومنټا (۱۳) له عینکو له نړۍ سره د افغانستان د نښلولو پر دلیلونو او وسایلو تمرکز لري. په دې سیمینارونو کې مختلف هنري کارونه وړاندې کېږي چې ښیي چې معاصر هنر د جیوپولیټیک له منطقه ورهاخوا خبرې کوي او دا کار د موادو د ډېرو ډولونو په ښودلو سره کوي.

۱ / ۴ – ۱۰ / ۴ / ۲۰۱۲

**لیدیزې مطالعې/ ژباړه د هنري کار په توګه**
په ملي ګالري کې جوړ شوی و (په دې سیمینار کې د افغانستان ملي موزیم او د اغاخان د کلتوري بنسټ کتل هم شامل وو)
سیمینار د ناتاشا صدر حقیقیاني او اشکان سپاهوند له خوا رهبري کېده (د نامتجانسې ژباړې د انسټیټیوټ لپاره)

کله چې موږ غواړو یو تصویر په یوه شي باندې وژباړو یا یوه میناتوري نقاشي په یوه غږ یا یوه ډېره پخوانۍ پېښه په اوس مهال باندې وژباړو نو څه به وشي؟ صدر حقیقاني او سپاهوند د ژباړې اساساتو، نامتجانسې ژباړې او ناهمغږې ژباړې ته د داسې لارې په سترګه ګوري چې مختلفې ژبې په کې بیانېدای شي: عیني او ذاتي ژبې لکه تصویرونه، غږونه، خبرې خو ورسره ذهني هغې هم لکه تاریخ او معاصر واقعیتونه، دودیز، میراثي، تجدد، او د هغوی تظاهرات. تصویرونه خبرې نه دي، غږونه شیان نه دي او دود دستور حافظه نه دی. دغه سیمینار د «لیدیزې مطالعې» له خپرونې سره چې د ډاکیومنټا (۱۳) له لوري په ۲۰۱۱ کې په دوو ژبو پارسي او انګلیسي خپره شوه، تړاو لري. دغه کتاب د هنري څېړنې یوه پروژه ده. دا پروژه د ایران د پوهنې وزارت له خوا د ښوونځیو لپاره د هنر د یوه چاپ شوي کتاب له ژباړې سره سمه روانه شوه.



# سیمینارها و لیکچرها در کابل

۶ / ۷ / ۲۰۱۰

**در مورد داکیومینتا و تاریخ آن**
آرامگاه تیمورشاه

لکچر عامه توسط کارولین کریستو – باکارگیو، به دنبال آن پریزنتیشن ها (ارایه ها) توسط مایکل توسینگ، فرانسیس الیس و ماریو گارسیا توریس

۵ / ۲ – ۸ / ۲ / ۲۰۱۲

راه اندازی سلسلۀ لکچرها و سیمینارها در ۲۰۱۲ با یک پذیرایی عامه همراه میباشد که توسط هنرمند گوشکا مچوگا به تاریخ ۵ فبروری ۲۰۱۲ راه اندازی شده است، که در آنجا اعضای جامعۀ مدنی افغانستان به صورت غیر رسمی دیدار و گفتگو میکنند. عکس های گرفته میشوند تا پردۀ تهیه گردد که هنرمند در فریدریشیانوم در شهر کاسل برای داکیومینتا (۱۳) به نمایش میگذارد. شاگردان که در سیمینار اشتراک می کنند (گروپ اول): عبدالمومن حمیدی، عبدالقاسم فوشنجی، احمد ولی اکبر، امین، آرزو وثیق، اسدالله برومند، آیتالله احمدی، فرزانه معانی، غلام رضا، گل بیده، جهان آرا، کریمه حسن زاده، لیزا حسن زاده، مریم نبی الکمال، مهدی امینی، محمد امین، محمد جمعه، محمد رضا، محمد تمیم صاحبزاده، مهدی حسن زاده، علی اخلاقی، محسن واحدی، نبیلا هورخش، نجیب الله، سید داوود، شهلا راشیدی، شمسیه ام البنین حسنی، تمنا بارکزی، یلدا نوری، زهرا محبت زاده، و زینب حیدری.

**تواریخ هنر در ترکیب نوتها**

محل برگزاری قصر ملکه و در محفظه باغ بابر، فاکولتۀ هنرهای زیبا، پوهنتون کابل، وان هوتل

۵ / ۲ / ۲۰۱۲

لیکچرهای عامه هنر، تخیل، پژوهش یا آزمایش، زندگی (کریستوف مینک) و هنر گوشکا مچوکا (کارولین کریستوف – باکارگیف) و به تعقیب آن یک سیمینار توسط کریستوف مینک.

۶ / ۲ / ۲۰۱۲

لکچرهای عامه تعبیر کردن هنر: کلیدها و جایگاهها (کارولین کریستوف – باکارگیف) و به تعقیب آن یک سیمینار توسط گوشکا مچوگا.

۷ / ۲ / ۲۰۱۲

لیکچر عامه معرفی سبک های هنری غرب و تاثیرات آن در افغانستان از اواخر قرن نوزدهم تا اوایل قرن بیستم (حمید نوید)، به دنبال آن یک سیمینار توسط حمید نوید.

۸ / ۲ / ۲۰۱۲

لیکچر عامه چه زمانی یک شی هنر می باشد؟ وقتیکه به دل بنشیند (چوس مارتینیس) به تعقیب آن یک سیمینار توسط چوس مارتینیس و ماریو گارسیا توریس و یک دیدار از وان هوتل سابق الگیرو بوتی.

۱۱ / ۲ – ۱۸ / ۲ / ۲۰۱۲

**ایجاد یک مجلۀ هنری:** آزمایش زمینه ها / یافتن زبان، دایر شده در – مرکز افغانستان در پوهنتون کابل – مرکز هنرهای معاصر افغانستان، کلید گروپ.

سیمینارها همراه کارمندان مجلۀ موسه (ایدواردو بوناسپاتی، ستیفانو سیرنوچی، فرانسیسکو والتولینا)، نمایندۀ داکیومینتا (۱۳) لیزا احمدی، هنرمند جیانو غوثی، عضو کور اجینت گروپ داکیومینتا (۱۳) رایموندااس مالاساوسکاس، هنرمند امان مجددی، هنرمند رهرو عمرزاد، و کلید گروپ.

این سیمینار به دور محور یک تلاش گروهی میچرخد تا در کابل یک مجلۀ هنری ایجاد گردد، هدف سیمینار این بود تا فهمیده شود کدام سخنان و کدام مواد می توانند بخشی از مجله شوند. خواسته شد تا محصلین محلی در این پروسه اشتراک فعال داشته باشند، مرام ابتکاری این ایدیتوریال دارای جوانب متعدد میباشد: مانند یک نشریۀ چاپي ماهانه، مانند یک بلاگ، جائیکه امکان این باشد که معلومات انتخاب شده و ایدیت شده در مورد کارکردهای داکیومینتا (۱۳) در افغانستان بدست آید، و در نهایت مانند نسخۀ اصلی یک مجله، که نشریه های چاپی قبلی در آن آمیخته شوند و نمایشگاه داکیومینتا (۱۳) کابل در آن درج شود.

۱۹ / ۲ – ۲۶ / ۲ / ۲۰۱۲

**چشم انداز بر هنر امروز**
دایر شده در مرکز هنر های معاصر افغانستان، و فاکولتۀ هنرهای زیبا، پوهنتون کابل

سیمینار ها توسط لیزا احمدی، امان مجددی، و آندریا ویلیانی پیش برده میشوند.

این سیمینارها بالای دلایل برای ارتباط و روشها برای اتصال، بالای موقعیت ها برای کلتور معاصر نسبت به ماهیت زمان و مکان، که افغانستان را امروز با دنیای بزرگ بیرونی متصل میسازد، تمرکز دارند البته از روزنۀ داکیومینتا (۱۳). در جریان سیمینارها، روش های مختلف هنری پیشکش میشوند که نطق های در مورد هنر معاصر که از منطق جیوپالیتیکس فراتر میرود ارائه میشوند و مواد نهایت زیادی تحت بررسی قرار میگیرند.

**مطالعات دیداری/ ترجمه منحیث یک عملکرد هنری**
برگزار شده در گالری ملی (در این سیمینار یک سفر به موزیم ملی و موسسۀ آغاخان برای فرهنگ نیز شامل بود)

**سیمینار توسط ناتاشا صدر حقیقیان و اشکان سپهوند**
(برای انستیتیوت ترجمانی نامتجناس)

چی رخ میدهد وقتی که ما بخواهیم یک تصویر را به یک شی ترجمه نماییم، یا یک میناتوری را به صدا، یا یک واقعۀ از گذشته های دور را به حال حاضر؟ ناتاشا حقیقیان و سپاهوند اساسات ترجمه، ترجمه نا متجانس و ترجمه ناهماهنگ را راه ی میدانند که توسط ان زبان های مختلف بیان شده میتوانند: زبان های عینی و ذاتی مانند تصویرها، صدا ها، سخنان و یکجا با آن زبان های ذهنی واقعیت های تاریخی و معاصر، زبان های میراثی، سنتی، تجدد و تظاهرات آن ها. تصویر ها کلمات نیستند و صدا ها اشیا، سنن و رواج ها حافظه ها نیستند. این سیمینار به نشریه «مطالعه دیداری» که در سال ۲۰۱۱ توسط داکیومنتا (۱۳) چاپ شده است، ارتباط دارد. این کتاب یک پروژه پژوهش هنری است. پروژه مذکور همزمان با آغاز ترجمه یک کتاب هنر که دولت ایران برای مکاتب متوسطه خود به چاپ رسانده بود، شروع شد.

# نندارتون او سیمینارونه
## د □اکیومن□ا (۱۳) دری□ / کابل، بامیان ۲۰۱۲
## ۵/۲/۲۰۱۲ – ۱۹/۷/۲۰۱۲

حاصره، هیله، په شا ت□ او زمینه په افغانستان ک□

محاصره، هیله، په شا تګ او زمینه هغه څلور حالتونه دي چې ډاکیومنټا (۱۳) یې په اړه تنظیم شوی دی او دا له هغو څلورو حالتونو سره مطابقت لري چې هنرمندان او متفکران ځان په کې مومي او عمل کوي. دغه حالتونه جامع نه دي او خپل اهمیت له یو بل سره له ذات البیني او غبرګوني اړیکو څخه اخلي. کابل او بامیان په ګډه سره د دې حالتونو څلور لاره جوړوي. د هیلې په حالت کې هنرمندان په عین وخت کې بیا بیا د محاصرې حالت هم تجربه کوي او همدارنګه د څنګ ته کېدا او د نورو د توجه د راجلبولو حالت. سیمینارونه د ۲۰۱۲ په ټول پسرلي او اوړي کې جوړ شوي وو. لومړنۍ ناسته یې د ۲۰۱۲ په جون کې وه او په پای کې یې اړوند نندارتون د ملکې ماڼۍ او په بابر باغ کې د هغې شاوخوا ته جوړ شوی و. د دې نندارتون متصدي د Core Agent Group د غړي ډاکیومنټا (۱۳) له خوا آنډریا ویلیاني او انځورګر امان مجددي وو. د ګڼو نورو پېښو په منځ کې، دغه سیمیناورنه هم د افغان او نړېوالو ګډونوالو له خوا رهبري کېدل. دغه سیمینارونه د هنرونو له تر پنځه ویشت زیاتو افغان زده کوونکو سره پر مخ یوړل شول چې پر کلیدي پوښتنو او موضوع ګانو باندې بحثونه باب کاندي. د سمینیارونو او نندارتون هدف دا دی چې هنري کارونه له ځایي خلکو سره شریک کړي او هنرمندان خپل کارونه د داسې ګډونوالو په توګه له نورو شریک کړي چې تخلیق به کوي، له نورو سره به مخامخ کېږي او یو څه به زده کوي.

دغه سیمینارونه چې هنرمندان، د هنري مطالبو لیکونکي او متفکران په کې شامل وو، د ګڼو افغاني عامه کلتوري موسسو په همکارۍ تنظیم شوي وو. دغه کلتوري موسسې په مختلفو ډګرونو کې لکه بصري هنرونه (visual arts)، موسیقي، تیاتر او د فلم په برخه کې فعالیت کوي.

«د هنر تاریخونه د نوټ په بڼه» هغه سیمینار دی چې د ۲۰۱۲ په فبروري کې جوړ شو. په دې سیمینار کې ځینې مفاهیم لکه هنر، تاریخ، دود دستور، عصریتوب، تجربه، ژوند او تخیل له مختلفو لیدلوریو ارزول شوي وو. د لیکل شوي نوټ د وسیلې په اخیستلو سره داسې حالت وښودل شو چې په هغه کې مفکورې، مفاهیم او یادښتونه موقتي لیکل شوي وو. دا کار د یادښتونو پر بالقوه او فرضي ارزښت تاکید درلود. تر دې وروسته نورو سیمینارونو پر مختلفو مسایلو لکه د هنري انعکاس او هنري مداخلاتو پر پیچلو ساحو تمرکز درلود:

— له ژبې، ژباړې او د نورو تر منځ له منځګړیتوب سره څرنګه چلند وکړو؟ دا چې د پوهېدا او نه پوهېدا ترمنځ فرضي اوښتنه رااوښتنه ولرو او همدارنګه په هغه ځای کې به څرنګه لازم عمل کوو چې په حقیقت باندې تل معاملې شوې دي. «لیدیزې مطالعې / ژباړه د هنري کار په توګه» یوه نوې پروژه ده چې د «نامتجانسه ژباړه» د انسټیټیوټ له خوا جوړه شوې وه او تصور یې د انځورګرې ناتاشا صدر حقیقیان او لیکوال اشکان سپاهوند له خوا وړاندې شوی و. د کابل ملي ګالري چې یوه هنري مجله چاپوي، د دې پروژې نژدې همکاره وه. «د زمینو ازمویل / د ژبو موندل» بل سیمینار و چې د میلان د موسې خپرندویې ټولنې او د کابل د سپېده مجلې تر منځ پر همکارۍ تمرکز کوي. «سپېده» مجله په ۱۹۸۰ یمو کلونو کې په پاکستان کې خپرېدله خو اوس په کابل کې د کلید ګروپ له خوا بیا خپرېږي.

— څرنګه د شمولیت او محرومیت پر جیوپولیټیکو کټګوریو بریالي شو. په داسې یوه وخت کې چې مکرراً د وګړو د خپرېدو مخه نیول کېږي او د پرمختللي ډیجیټلي تمرینونو عصر دی، څرنګه وګړي سره ونښلوو چې د تعلق او بدلېدا ترمنځ انډول وساتل شي او د مباحثې لمن پراخه شي.

— څرنګه آرشیفونه د عامه ځایونو په توګه راوسپړو، څرنګه آرشیفي مواد د خلکو له ګډو خاطراتو سره ونښلوو، څرنګه د لږ پېژندل شویو تاریخونو لاس په لاس کېدل زیات کړو، آرشیف د عملي اساس په توګه نیول (Archive Practicum یو سیمینار دی چې د مریم غني او pad.ma له خوا په افغان فلم کې جوړ شو) څرنګه عکسونه آرشیف کېږي، تنظیمېږي او ساتل کېږي، د ژبې او تصویرونو (ولاړ او خوځنده تصویرونو) تر منځ ارتباط ته څرنګه وګورو، ډیجیټل عکسونه څرنګه اخیستل کېږي، پروسس کېږي، زېرمه کېږي (فوټوګرافیک معلومات، یو سیمینار و چې مسعود کمندي یې د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو په پوهنځي کې رهبري کوله).

— څرنګه له ورځني محیط څخه اخیستل شوي ساده مواد کولای شي داسې لاره راوښیي چې له تمې څخه لرې د اساسي آزادۍ فضا برابره کړي. دغه فضا د آزادۍ، ځواک او د تجسم د مفاهیمو د سپړلو حالتونه زیاتوي. څرنګه معاصر او دودیز مفاهیم په داسې لاره بیا سره ونښلوو چې پخواني توپیرونه وننګوي، د دوام او په «لاس جوړ شوي» تصورونه چې د دودیزو موادو او شیانو پر سیمه ییزو معناوو ټینګار کوي. څرنګه تیاتري او کوریوګرافیک تمرینونه د سړي شخصي او سیاسي خصوصیات راښیي. څرنګه تیاتري ښکلاپېژندنه له تاریخي شېبو سره غبرګېږي. څرنګه د تیاتر د ممثل بیوګرافي د تیاتر له تاریخ او له عمومي تاریخ سره غوټه کېږي. څرنګه یو هنري کار وپنځوو چې د یوې ټولنې پټ خو ګډ تاریخ راوښیي. له محدودیتونو سره څرنګه چلند وکړو، څرنګه به تقریباً له هېڅ څخه یوه یادګاري تخیلي تجربه وپنځوو. «اکټونه، نندرایز حرکتونه، شیان او پروسې: مواد او کړنې» دا یو ګڼ توکیز سیمینار دی چې انځورګر او فلم جوړونکي برمک اکرم، انځورګر او کوریوګرافر ژیرام بل، او دوو نورو هنرمندانو لارا فیواریټو او اډرین ویلر یې رهبري کړې وه. دغه سیمینارونه په بابر باغ کې، د افغانستان په فرانسوي انسټیټیوټ کې، په استالف، ملي تیاتر او د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو په پوهنځي کې جوړ شوي وو.

له دغو سیمینارونو سره غبرګ په بامیان کې هم دوه سیمینارونه جوړ شوي وو. «څه دوړې په پورته شي؟» مایکل رکویټز د دې سیمینار مدیر و. سیمینار د غره په ډډه کې چې یو وخت د بودا مجسمې په کې ولاړې وې، په یوه سمڅه کې جوړ شوی و. په تخیيلي لاره داسې کارونه چې د حجارۍ له منځه تلونکی مهارت بیا راژوندی کړي او د راتلونکې لپاره یو میراث پرېږدي. د خادم علي په واسطه «د شاهنامه بیا لوستل» د دودیز نکل ویلو او میناتورۍ بیا راژوندي کول دي چې مختلف نسلونه سره ونښلوي او پر دې خبرې وپوهېدل شي چې څرنګه زموږ تېر تاریخ په پېړیو پېړیو ویل شوی او زموږ نن ګرځېدلی دی.

له دې سیمینارونو څخه هغه نندارتون راولاړ شوی چې عمدتاً په افغانستان کې تولید شوي هنري کارونه په کې شامل دي. نندارتون نندارچیان په هغو خبرو اترو بوختوي چې د محاصرې او تیت و پرکوالي، د پرځېدلو او بېرته رغېدلو، د حافظې او تخیل، د پرون او سبا تر منځ له مراسلاتو مالامال دي. همدارنګه نندارچیان د دواړو ښارونو کابل او کاسل سره ورته تاریخونو باندې بوختوي. دواړه ښارونه په جنګ کې د ړنګېدو او بیا د فزیکي بیارغونې او ذهني رغېدلو د اړتیا شاهدان پاتې شوي دي. دواړه په داسې سټېجونو بدل شوي دي چې زموږ اوسنی حالت په کې ننداري ته وړاندې کېږي (لکه څنګه چې د ټاسیتا ډین او ګوشکا مچوګا په کارونو کې ښودل شوي) او یا (د جیوسوپ پینوني په دوو درې ګونو مجسمو کې چې د کاسل په کارلساو پارک کې او د کابل په بابر باغ کې لګول شوې دي) ډاکیومنټا (۱۳) داسې حالت رابولي چې سوله او جګړه په کې یو ځای دي (لکه د زلمي په عکسونو کې او د فرانسیس الیس په نقاشیو کې) او د دنیایي تخیل ډولونه چې د تعهد، مواد، شیان، تجسم او فعاله ژوند په لټه کې دي، رابولي او هنري تحقیق ته په تېرېدونکي او په عین وخت کې بوختونکي نقطه کې ځای ورکوي. دا یوه شاعرانه سپړنه او خطرناکه راټولونه، هوښیارانه محرک او فکرمندانه آرزو ده.

څرنګه چې مریم او اشرف غني یې د خپلې ډاکیومنټا (۱۳) په افغانستان نومي کتابچه کې رایادوي: یو قاموس، اسطورې، ګومانونه، ګونګسي او حقایق کولای شي په یوه بل کې ورننوځي. د راتلونکې لپاره نمونې او د تېر لپاره سېمبولونه، پلانونه او ماتې، کولای شي په «انتخابي، اتحادي» بڼه سره یوځای واوسي. د غني په خپله ویډیو کې دارالامان شاهي ماڼۍ چې په ورستیو دېرش کلنو کورنیو جګړو کې ړنګه شوې ده، د کاسل ښار فریډریشیانوم ماڼۍ راپه زړه کوي چې په ۱۹۴۳ کې بمبارد شوې وه. نورو پروژو لکه د مکسیکويي هنرمند ماریو ګارسیا ټوریس هغې ته هم باید له همدې نظره وکتل شي. ګاریسا ټوریس «ون هوټل» بیا فعاله کړی دی. دا هوټل لومړی ځل یوه ایټالوي هنرمند الګوریو بویټي له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۷ کلونو پورې جوړ کړی و. هغه افغانستان ته په دې نیت تللی و چې خپل هنري هویت او له هنره خپل تصور بیا مومي. ده غوښتل دا کار د غلام دستګیر په مرسته په شهر نو کې د «ون هوټل» د جوړولو له لارې ترسره کړي خو ښایي هېڅکله یې دا تصور نه و کړی چې هوټل دې د یوه هنري کار په بڼه پرانېزي. ګارسیا ټوریس هم هغه څه خلق نه کړل چې موږ یې معمولاً هنري کار بولو. د دغو هېرو شویو او متروکو جایدادونو بیا رغول او بیا فعالول، د ګلابو کرل او په باغ کې مېلمنو ته چای ورکول، تر ډېره بریده یو خیالي زماني مکاني تسلسل دی چې نیم رښتیا او نیم خیالي دی. دا هغه شیان دي چې باید تجربه شي او له نورو سره شریک شي چې له هنر څخه زموږ د درک له لارې زموږ ایجنسي ته نوی ځای ځایګی ومومي. د هنر له مفهوم سره تت روایتي برخورد د کوربه او مېلمه یا د اوس او بیا تر منځ دودیزو توپیرونو ته اجازه ورکوي چې د هنري حرکتونو هرکلیز انعکاس نرم کړي او دا په افغانستان کې د ډاکیومنټا (۱۳) زړه دی. AV



# سیمینارها و نمایشگاه
## موضع داکیومنتا (۱۳) / کابل، بامیان ۲۰۱۲
## ۵/۲/۲۰۱۲ – ۱۹/۷/۲۰۱۲

محاصره، امید، بازگشت و زمینه سازی در افغانستان

این نشریه نمایشگاه dOCUMENTA (13) در کابل را معرفی میکند و همچنان گزارش سیمینار های مقدماتی را که در بین سال های ۲۰۱۰ و ۲۰۱۲ دایر شده بودند، ارایه میکند.

چهار رکن اساسی که داکیومنتا (۱۳) دور آن طرح ریزی گردیده – محاصره، امید، بازگشتن و زمینه سازی – امکان تطابق با چهار حالت دارد که هنرمندان و متفکرین خود شان را در عملکرد آن می یابند. این موقعیت ها جامع نیستند و اهمیت خاص خود را از طریق ارتباط ذات البینی و انعکاسی با یکدگر بدست می آورند. کابل و بامیان با هم یک چهار راهی این نوع حالات را تشکیل میدهند. اینجا، هنرمندان همزمان با حالت امید، مکرراً وضعیت محاصره را تجربه میکنند، همچنان یک حالت کناره گیری و مورد توجه دیگران قرار گرفتن را. سیمینار های مذکور توسط dOCUMENTA (13) و گویته انستیتوت افغانستان آغاز شده بودند و در طول بهار و تابستان ۲۰۱۲ ادامه یافتند، که جلسۀ اول در ماه جون ۲۰۱۰ و ختم آن در قصر ملکه و در مجاورت باغ بابر که در متصدی آن داکیومنتا (۱۳) عضو کور اجنت گروپ، آندریا ویلیانی و هنرمند امان مجددی صورت می باشد. در میان واقعات زیاد دیگر، سیمینارهای یاد شده نیز توسط شرکت کنندگان افغانی و بین المللی اداره می شد که با مشارکت بیش از بیست و پنج نفر شاگرد هنر افغانستان پیش برده شد و هدف ان ترویج مباحث پیرامون پرسش کلیدی بود. هدف هر دو سیمینارها و نمایشگاه این است که کار های هنری را با جامعۀ محلی شریک نموده، و هنرمندان کار های هنری را شان منحیث آن اشتراک کننده گانی با دیگران شریک می کنند که هم تخلیق میکنند و هم چیزی می آموزند.

این سیمینار ها که در انها هنرمندان، نویسنده گان مطالب هنري ومتفکرین شامل بودند، به همکاری موسسات متعدد عامه فرهنگي که در عرصه های مختلف مانند هنرهای بصری، موسیقی، تیاتر و فلم فعالیت دارند، دایر شده بودند.

— در سیمینار«تواریخ هنر در آیین نوت ها» که در ماه فبروری ۲۰۱۲ تدویر یافته بود، اندیشه های مانند هنر، تاریخ، رواج، عصری، زندگی تجربوی و تخیل، از نقطه نظرهای مختلف بر رسی گردیده بودند. ابزار نوشتاری انتخاب گردیده بود تا از یک حالتی نمایندگی نموده که در آن تصورات، نظرات، و یاداشتها به روش موقت (موقتاً) تحریر شوند، که ارزش آنرا مشخص میسازد. سیمینارهای بعدی بر بخش های مختلف مانند ساحه های مغلق هنری و مداخلات هنری تمرکز داشتند:

— با زبان، ترجمه و میانجیگری چگونه برخورد باید کرد؟ اینکه میان دانستن و نه دانستن در تغییر و تبدیل باشیم، و در جائیکه حقیقت همواره معامله شده است، چه عملکرد های اساسی را باید انجام دهیم «مطالعات دیداری / ترجمه منحیث یک عملکرد هنری» یک پروژۀ جدید توسط انستیتوت ترجمه نامتجانس، ابتکار ناتاشا صدر حقیقیان و نویسنده اشکان سپاهوند با همکاری نزدیک گالری ملی کابل که یک مجلۀ هنری نشر میکند، دایر شده بود. «آزمایش زمینه ها / یافتن زبان» یک سیمینار دیگری بود که بالای یک تشریک مساعی میان مطبعۀ موسه، میلان، و مجلۀ «سپیده» تمرکز دارد. (مجله سپیده قبلاً در سال های ۱۹۸۰ توسط فرهنگیان مهاجر افغان در پاکستان چاپ میشد و حالا توسط کلید گروپ در کابل به چاپ می رسد)

— چگونه میتوان بر طبقات جیوپولیتیکی شمولیت و محرومیت نائل آمد؛ در یک زمانی که مکرراً جلو پراگنده شدن مردم گرفته می شود و عصر شیوه های پیشرفته دیجتلی است، چگونه میتوان مردم را متصل نگه داشت که بین تعلق و تغییر توازن حفظ گردد او دامن مباحثه وسیع گردد.

— چطور میتوان آرشیف ها را منحیث محلات عامه اکتشاف نمود؛ چگونه میتوان مواد آرشیف شده را به حافظۀ مشترک عامه سپرد؛ چگونه میتوان تواریخ کم شناخته شده را به گردش آورد؛ گرفتن آرشیف منحیث قاعدۀ مؤثر آموزش عملی، (Archive Practicum یک سیمینار توسط مریم غنی، آشوک سوکوماران و شاینا آنند CAMP و پاد.ما در افغان فلم)؛ چگونه تصاویر آرشیف، مرتب و حفظ میشوند؛ چگونه باید به ارتباط میان زبان و تصاویر نگاه کرد، در هر دو تصاویر بی حرکت و متحرک؛ چگونه تصاویر دیجیتال گرفته و دستکاری میشوند (معلومات تصویری، یک سیمینار توسط مسعود کمندی در فاکولتۀ هنرهای زیبا، پوهنتون کابل).

— موادی که از محیط روزانه و یا بدن بدست میاید، چگونه میتواند یک طریقت را روشن نماید که توسط آن میتوان یک فضای غیر مترقبه را برای یک آزادی اساسی ایجاد نمود، بالا بردن سطح آزادی و توانمندی و جستجو در اندیشه های دگرگون و تجسم؛ چگونه میتوان عصر معاصر را با عصر سنتی به طریقه های وصل نمود که دو پارچگی های کهن را به چالش فراخواند، اندیشه های بقا و «صنایع دستی» و معانی موضعی خاص که در مواد و اشیای سنتی یافت میشوند؛ چگونه شیوه های تیاتر یا کوریوگرافیک میتواند شخصیت خودی و سیاسی را آشکار سازد؛ چگونه شرح زندگی یک اکتور به تاریخ تیاتر وهمچنان به تاریخ عمومی ارتباط دارد؛ چگونه میتوان با محدودیت ها معامله کرد؛ چگونه میتوان یک اثر ماندگاری، تجربۀ تخیلی(حکیمانه) را از یک چیز نا چیز بوجود آورد (کردارها، اداها، اشیا و پروسه ها: مواد و عملکرد، یک سیمینار چندگانه که توسط هنرمند و فلمساز برمک اکرم و هنرمند و کوریوگرافر ژیرام بل، و هنرمندان لارا فواریتو، و آدرین ویلر رویاس، در باغ بابر، انستیتیوت فرانسه در افغانستان، استالف، تیاتر ملی، و فاکولتۀ هنر های زیبا، پوهنتون کابل).

— همزمان با این سیمینار ها، دو سیمینار دیگر در بامیان راه اندازی شده بودند. «چه خاکبادی بر خواهد خواست؟» توسط مایکل راکوویتز، در یک غاری کوهستانی که در آن یک زمان بتهای بودا قامت افراشته بودند، دایر شده بود. او در یک روش تخیلی کار میکند تا بتواند که مهارت در حال از بین رفتن حکاکی روی سنگ را دوباره احیا نماید و در حد امکان میراث برای آینده باقی بگذارد؛ «بازخوانی شاهنامه»، احیای مجدد رسم سنتی قصه خوانی و نقاشی میناتوری توسط خادم علی است، تا بتواند نسل های مختلفی را اتصال بخشد و اینکه دانسته شود که چگونه گذشتۀ ما طی قرون متمادی گفته شده و تا زمان ما رسیده است.

در کابل نمایشگاه برخاسته از این سیمینارها، از کارهای هنری که در افغانستان تولید شده اند، تشکیل گردیده – نمایشگاه تماشاچیان را در یک گفت و گو که میان پراکندگی و محاصره، فروریختگی و بازیابی، حافظه و تخیل، گذشته و آینده، لبریز از مکاتبه هاست. همچنان تماشاچیان را به تاریخ با هم مشابه دو شهر، کابل و کاسل، که هر دوی شان ویرانی توسط جنگ و نیاز برای بازسازی جسمی و بازیابی مجدد را تجربه کرده اند، مصروف میسازد. هر دو به صحنه های مبدل شده اند که در آن، زمان حال ما به نمایش گذاشته شده اند (چنانچه در کارهای تاسیتا دین و گوشکا مچوگا پیشکش شده) و یا (در دو مجسمۀ سه تایی جیوسیپی پینونی که در پارک کارلساوی کاسل و در باغ بابر کابل، نسب گردیده اند). داکیومینتا (۱۳) حالتي را فرامیخواند که در آن برخورد و صلح همزیستی دارند (مثلیکه در تصاویر زلمی و در نقاشی های فرانسس الیس مشاهده میشوند) و اشکال تخیلات دنیایی را که در جستجوی تعهد، ماده، اشیاء، تجسم و ارواح متحرک می باشند، فرا میخواند و پژوهش هنری را در یک نقطۀ گذرا و در عین حال جالب و سرگرم کننده جستجو میکند – این یک پژوهش شاعرانه و تمرکز مخاطره آمیز، انگیزش خردمندانه، و آرزوی فکرمندانه است.

اسطوره ها، گمانه زنی، شایعه، و حقایق میتوانند همدیگر را بپوشانند. الگوها برای آینده و رمزها یا سمبول های گذشته، پلانها و شکستها، میتوانند همزیستی نمایند، به یک روش «خاص، طرز شرکت پذیر» مانند ویدیوی خود غنی، که قصر ویران شدۀ دارالامان را که در جنگهای سی سال گذشته نابود گردیده، به قصر فریدریشانوم کاسل مقایسه میکند، که در سال ۱۹۴۳ بمباردمان شده بود. پروژه های دگر، مانند آن یکی که توسط هنرمند مکزیکویی ماریو گارسیاس توریس، باید از همین دیدگاه دیده شوند. گارسیا توریس وان هوتل کابل را بکار انداخته است، این ابتکار در کابل از سال ۱۹۷۱ تا ۱۹۷۷ توسط هنرمند ایتالیایی الیگییرو بویتی آغاز شده بود، او از ایتالیا به افغانستان به این نیت کوچ کرد تا هویت هنری خویش را و تصور خودش از هنر را باز یابد. او میخواست این کار را از طریق باز کردن یک هوتل بنام «وان هوتل» در شهرنو همراه با غلام دستگیر، اجرا کند مگر شاید ههیچگاهی این نکته را درک نکرده بود که هوتل را به شکل هنری بازگشایی نماید. گارسیا توریس هم چیزی نه آفرید که ما معمولاً آنرا کار هنری مینامیم – احیای مجدد و بازگشایی این عمارت های از یاد رفته، کاشتن گلاب و پیشکش کردن چای برای مهمانان – بیشتر تسلسل تخیلی زمان و مکان است که قسماً حقیقی و قسماً افسانه ئی می باشد – که باید تجربه و با دیگران شریک ساخته شود؛ یک فرصت که اجنسی ما را از طریق درک هنر به جایگاه جدیدی ارتقاء بخشیم. این برخورد خیره و تیره با مفهوم هنر، اجازه میدهد که در میان مهمان و میزبان تفاوت ها محسوس شوند، یا بعضی اوقات، به کرات، انعکاس اداهای خوش آمد هنری که در قلب داکیومینتا (۱۳) در افغانستان قرار دارد. AV

**№101**

نمبر ۱۰۱
سمینارها و نمایشگاه ها
موضع dOCUMENTA (13)
کابل، بامیان ۲۰۱۲
۷/۶/۲۰۱۰ – ۱۹/۷/۲۰۱۲

شمیره ۱۰۱
سمینار او ننندارتون
د dOCUMENTA (13) موقف
کابل، بامیان ۲۰۱۲
۷/۶/۲۰۱۰ – ۱۹/۷/۲۰۱۲

HATJE CANTZ

**dOCUMENTA (13)**

№101

نمبر ۱۰۱

سمینار ها و نمایشگاه ها

موضع dOCUMENTA (13)

کابل، بامیان ۲۰۱۲

۷/۶/۲۰۱۰–۱۹/۷/۲۰۱۲

شمیره ۱۰۱

سمینار او نندارتون

د dOCUMENTA (13) موقف

کابل، بامیان ۲۰۱۲

۷/۶/۲۰۱۰–۱۹/۷/۲۰۱۲

HATJE
CANTZ

dOCUMENTA (13)